# دپښتو ژبې ادبي سرلاري

## لومړی ټوکه

## سید اصغر هاشمي

هغه کتابونه چې سمسور ووبپاڼې پرلیکه کړې او یا یې پر لیکه کوي، {{
{{نور څوک یې
پر لیکه کول اجازه نه لري

WWW.SAMSOOR.COM

# حقیقي سرلاري

(د پښتو ژبې ادبي سرلاري) د ښاغلي سید اصغر هاشمي د لیکوالۍ پر لار لومړي قدم دی چې په یو نوي فکر سره یې په زړه پورې ډالۍ ښاغلو لوستوالو ته ورپه لاس کړه.

د نوموړي اثر محتوی په پښتو ژبه کې هغو لیکوالو او شاعرانو ځانګړې شوې ده، چې په نوموړې لار کې یې د لومړي ځل لپاره په یوه برخه کې قدم اخیستی دی.

د نوموړي اثر نوښت په همدې کې دی چې د یو لار ښود او کیلي په بڼه هغه ښاغلي را پېژني چې تر ډېره بریده به چا لا تر اوسه په دې بڼه نه پېژندل، او دا دی د نوموړي لیکوال په برکت د دې سرلارو یوه ښایسته ګېډۍ په دې اثر کې را ټوله شوې ده.

که څه هم نوموړی اثر د تالیف بڼه لري خو د څېړنې مالګه هم ورسره یو ځای شوې ده او د نیمه څېړنې په شکل را څرګند شوی دی، که هر څه وي په پښتو ادب کې یوه نوې زیاتونه ده.

زه یې لیکوال ته مبارکي وایم او لوستوالو ته د لوست، سَت.

په درنښت

پوهنمل محمد ابراهیم همکار

درونته، د پوهنتون مېنه


WWW.SAMSOOR.COM

# سریزه

افغانستان د زرګونو کلونو اوږد عمر او له ویاړه ډک تاریخ لري، په دې اوږد زماني واټن کې په هېواد کې په زرګونو نومیالي، بریالي، ننګیالي، توریالي، فرهنګیالي او وتلي کسان تېر شوي چې د تاریخ په اوږدو کې یې درانه او پاخه ګامونه ایښي او تلپاتې نخښې او اثار ترې را پاتې دي.

د اریانا په غېږه کې ګڼ ادبي، حربي، سیاسي، فکري او علمي پوهان او مشران را پیدا شول او په خپل خپل ځای کې یې کارنامې او خدمتونه وکړل د خپل هېواد دفاع یې هم وکړه خپل هېواد یې ودان کړ او خپلو نسلونو ته یې خپل اثار او افکار هم په میراث پرېښودل د اریانا د ژوند په دې اوږده واټن کې د ژوند په هره برخه کې نوابغ، لویان، مشران، شاعران او لیکوالان را منځته شول، په خلکو کې یاد او نوم یې تلپاتې شو چې شمېر یې سلهاوو ته رسېږي.

افغانستان د ویاړونو زېږنځای دی، د افغانستان په تاریخ کې که موږ وګورو نو که د اسلام له راتګ څخه مخکې وي که وروسته زموږ ګران هېواد د تاریخ په هر پېر کې خپل برم او مقام د نړۍ د یو باوقاره، غیرتي او د ښه کلتور او دستور لرونکی هېواد په توګه ساتلی، زموږ د ګران هېواد په هر دور او زمانه کې زموږ ننګیالیو او توریالیو اتلانو د خپلې تورې او قلم په ځواک د خپل هېواد پت او ناموس ساتلی دلته یوه خبره د یادونې وړ بولم چې له بده مرغه د افغانانو تاریخ په هر دور کې د نا اهلو او نا انصافو یرغلګرو له خوا پټ ساتل شوی ټولو ترډېره حده دا کوښښ کړی چې زموږ هغه تاریخي او علمي اثار چې موږ ته یې کولای شول د خپل ماضي په هکله معلومات راکړي او موږ د خپلو

WWW.SAMSOOR.COM د پښتو ژبې ادبي سرلاري

نېکونو له کارنامو څخه خبر کړي له منځه وړي له چنګېزه تر انګرېزه پورې هر يو ير غلګر دا کوښښ کړی چې د افغانانو تاريخ ، کلتور او ژبې ته زيان ورسوي يا يې ختم کړي.
موږ په خپلو ليکنو کې زياتره ليکو چې له بده مرغه د فلانکي اثار ورک دي نو د دې وجه دا ده چې که هر دښمن دلته راغلی نو لومړی يې زموږ علمي منابع له مينځه وړي که موږ د خپل هېواد يا پښتو ادب تاريخ ته ځير شو نو موږ ته به دا په ډاګه شي چې يا خو زموږ د نومياليو تش نوم پاتې دی يا يې د اثارو نوم او يا يې هم په اړه لږ څه معلومات لرو.
د بېلګې په توګه د لرغوني دورې زياترو شاعرانو او نوميالیو د شعرونو يواځې يو څو بېلګې پاتې دي او همدا راز د سليمان ماکو تذکرة الاولياء يواځې اووه(۷) مخه موندل شوي او د هاشم سرواني د سالو وږمه د شيخ کته لرغوني پښتانه د محمد بن علي البستي تاريخ سوري او داسې نورو نوميالیو ليکوالو اثارو يواځې نومونه تر موږ رارسېدلي.
نو که دغه اثار د همدې هېواد اوسېدونکو په همدې هېواد کې ليکلي نو اوس ولې نه شته دې بر داسې ارزښتناکه اثار اوس هم د بهرنيو هېوادونو په کتابتونونو کې پراته دي او زياتره يې د خاورو لاندې شوي دي.
د دغه کتاب د ليکلو اهم مقصد د افغانستان د هغه شاعرانو ، ليکوالانو او نوميالیو له کارنامو او خدمتونو څخه د زلمي کهول او ادب مينه والو خبرول دي، په دې کې ما د پښتو ادب تاريخ هغه شخصيتونه در معرفي کړي چې پښتو ادب کې يې د لومړني ځل لپاره

نوښتي کار کړی دی.

دد غـو توريـاليو افغانـانو پـه هکلـه پـه سلګونو کتابونـه د فاضـلو او نوميالیو عـالمانو پـه قلم ليکل شوي دي چې په کتـابونو کې موجود دي ماله همدغو کتابونو نه پـه ګټـه اخيسـتنې سره کوښښ کـړی دی، چې د نوميالیو ژوند ليک پـه لنډه توګه وليکم.

زه د ښاغلیو استادانو او خپلو ټولو زړه تـه نـږدې ملګـرو څخـه ډېره مننه کـوم چې د دې کتـاب پـه ترتيب کـولـو کـې يې راسره پـه څـه نـا څـه ډول مرسته او خواري کړې په ځانګړې توګه له محترم استاد پوهنمل محمد ابراهيم همکار څخه يوه نړۍ مننه کوم چې پر تشويق سربېره يې هر رنګه همکـاري راسره کـړې، د خـان محمـد پـر ګـوتـو دې هم برکت شي چې د کمپيوټر چارو ته يې سره له ډېرو بوختياو اوږه ورکړه.

څنګـه چې دا زمـا لـومړنی چـاپي ليکنـه ده نو کېـدای شي چې ډېرې نيمګړتياوې او تېروتنې ولري نو ځکـه لـه تاسو ګرانو لوستونکو څخه بخښنه غوارم، الله تعالی دې وکـړي چې دغـه نـاچيزه ليکنـه ستاسې پـه معلوماتو کې يو څه ګټور وګرځي او ستاسې علمي سو يه لوړه کړي.

د يو پياوړي، ځواکمن ودان او خوشحال افغانستان په هيله.

په درنښت

پوهيالی سيد اصغر(هاشمي)

# د پښتو ژبې لومړنی شاعر

امیر کروړ: امیر کروړ جهان پهلوان د امیر پولاد سوري زوی و.او دا امیر په جګړو کې د ابو مسلم خراساني کلک او بریالی ملګری و ، که څه هم د امیر کروړ نوم نور تاریخپوهان نه اخلي او منهاج سراج تش د ومره وایي چې پس له امیر پولاده دوه زامن یې د غور واکوال وو ، مګر محمد بن علي البستي چې په تاریخ سوري کې دامیر پولاد یو زوی چې امیر کروړ جهان پهلوان سوري غوري دی، ستایي او دده پښتو اشعار را نقلوي او داسې ښکاري چې امیر کروړ جهان پهلوان ډېر شجاع، ادیب د تورې او قلم خاوند و ، امیر کروړ په ۱۳۹ هـ کال د غور په مندېش کې امیر شو او د جهان پهلوان یې باله وایي چې د غور کوټونه، بالشتان، خېسار، تمران او برکوشک یې ونیول.

امیر کروړ د سوریانو د کورنۍ مشهور شاعر دی، د سوریانو کورنۍ ډېر غښتلي پاچایان او شاعران درلودل، چې امیر کروړ له هغو شاعرانو څخه دی چې د پښتو ادبیاتو د لیکلي شعر د لاسته راتلو ویاړ لري.

خو کله چې موږ د امیر کروړ په شعر غږېږو او د هغه د شعر جوړښت ته نظر وکړو ، نو شعر یې ډېر غښتلی او په ملي وزن برابر شعر دی، دا چې د امیر کروړ شعر لومړنی شعر دی چې زموږ په واک کې دی، نو ډېر امکان یې شته چې تر دې مخکې شعر ډېر مراحل طی کړي وي چې دې مرحلې ته رسېدلی دی.ډېر امکان لري چې دامیر کروړ نه مخکې هم په پښتو ادبیاتو کې شعر به موجود و خو له موږ سره وجود نه لري نو زموږ لومړنی شعر همدا د امیر کروړ شعر دی.

د سوریانو په کورنۍ کې مشهور شاهان او لیکوالان شته چې دوی

په پښتونواله او مېړانه کې معروف و د تاریخ له پاڼو څخه ښکاري چې سوریانو تر اسلام د مخه او بیا د اسلام په لومړیو وختونو کې پر غور او خراسان پاچاهي کړې ده څو وروسته غزنی، بامیان، تخارستان او زابلستان هم دوی فتح کړ او د غور مشهور او بریالي سلاطین له دغه پښته وه، چې ختیځ ته یې د ګنګا تر غاړو او لودیځ ته یې د خراسان تر پایه او شمال ته یې تر اشغر او پامېره او سوېل ته یې د عربو تر بحېرې پورې د سلطنت لوا هسکه وه، قاضي منهاج سراج چې د سوریانو د دربار مؤرخ دی داسې وایي:

(ضحاک دې په پښتو سهاک یا سهک له اولادې دوه ورونه وه چې مشر یې سور او کشر یې سام نومېده، لومړی پاچا او دویم د لښکر مشر (سپه سالار) وه او تر اسلام ډېر د مخه د دوی کورنۍ د غور شاهي لرله دوی شنسبانیان بولي ځکه لوی نیکه یې شنسب نومېده، داسې نورې تاریخي خبرې د سوریانو د کورنۍ په باره کې ډېرې زیاتې شته(1)

په تاریخ سوري کې یې راوړي چې امیر کروړ له پېړیو په غور، بالشتان او بست کې و او د هغه سور نومې له اولادې څخه و، چې د سهاک له پښته و(2)

امیر کروړ ډېر غښتلی پهلوان او په یو تن له سلو جنګیالیو سره جنګېده ځکه یې نو کروړ باله چې مانا یې ده کلک او سخت، وایي چې امیر کروړ به په دوبي زمینداور کې و او هلته یې ماڼۍ درلوده

---

1 - حبیبي، عبدالحی، د پښتو ادبیاتو تاریخ، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۴ل کال، ۲۰۹-۲۳۷مخونه.

2 - محمد هوتک بن داود، پټه خزانه، قندهار، ۱۳۳۹ل کال، ۱۳مخ.

چې کټ مټ د مند ېش په شان و او په دغه ځای کې يې ښکار کاوه په تاريخ سوري کې راوړي چې امير کروړ د سهاک له پښته دی امير پولاد په هغه دعوت کې شريک و چې ابوالعباس سفاح له بني اميه سره جګړه کوله او امير فولاد يې ملاتړی و شيخ کته له تاريخ سوري نقل کوي چې امير کروړ عادل،ضابط او د ښې و ينا خاوند و ، ده به هر کله شعرونه ويل په ۱۵۴هـ کال د پوشنج په جګړو کې مړ شو او تر ده وروسته يې زوی امر ناصر پاچا شو([1])

لکه څرنګه چې د هرې ژبې د ادب ابتداء له شاعری او نظم نه شوې ده دغه شان د پښتو ادب ابتداء هم له شاعری نه شروع شوې ده دا چې د ژبې له منځ ته راتګ سره په يوې ټولنې کې د لومړي ځل لپاره په نثري خبرو شروع کېږي، بايد د نثر تاريخ پخوانی وي نسبتا نظم ته دا چې په هغه وختونو کې خط ليکلی شکل نه درلود او په ذهن کې د يوې موضوع د ساتلو لپاره د نثر نه نظم ښه ساتل کېده، نو هماغه دی چې د پښتو ژبې نه علاوه په نورو لرغونو ژبو (وېدا ،اوستا او سانسکريت) چې ډېرې پخوانی ژبې دي بنسټ يې په نظم ايښودلی شوی دی نه په نثر نو په همدې اساس د پښتو ژبې نظم نسبتا تر نثر پخوانی او خورا لرغونی دی چې ډېر لرغونی تاريخ لري([2])

د امير کروړ شعر ډېر پخوانی تاريخ لري کله چې موږ د يو شي تاريخ او قدامت ښکاره کوو وايو د امير کروړ د وخته دی.

د امير کروړ نه را پاتې د پښتو ژبې لومړنی لاسته راغلی شعر چې

---

1 - حبيبي، عبدالحی، د پښتو ادبياتو تاريخ، دانش خپرندويه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۴ل کال، ۴۴۰مخ.

2 - سحر، سحرګل، پښتو ادب پوهنه، پښتو اکاډمي، پېښور، ۱۳۸۹هـ ش، ۳۳مخ.

ویاړنه یې بولي په لاندې ډول دی:

د ویاړنې پېژندنه: په خپل دین، قوم، ژبه، نیکونو، تورې، مېړانې، زړورتیا او نورو اوچتو صفتونو ویاړ کولو ته ویاړنه وایي چې بېلګه یې د امیر کروړ شعر دی(1)

## ویاړنه

زه یم زمری پر دې نړۍ له ما اتل نسته
په هند و سند په تخار و په کابل نسته
بل په زابل نسته          له ما اتل نسته
غشي د من مې ځي بر بېښنا په مېرخمنو باندې
په ژوبله یونم یرغالم پر تښتېدنو باندې
په ماتېدونو باندې          له ما اتل نسته
زما د بریو پر خول تاوېږي هسک په نمنځ و په ویاړ
د اس له سوو مې مځکه رېږدي غرونه کاندم لتاړ
کړم اېوادونه او جاړ          له ما تل نسته
زما د تورې تر شپول لاندې دي هرات و جروم
غرج و بامیان و تخار بولي نوم زما په اودوم
زه پېژندوی یم په روم          له ما اتل نسته
پر مروز ما غشي لوني ډارې د ښمن را څخه
د هرېرود پر څنډو ځم تښتي پلن را څخه
رېږي زړن را څخه          له ما اتل نسته

---

1 - مسلم دوست، عبدالرحیم خوږه ژبه، پېښور و ۱۳۸۸ل کال، ۲۲۸ مخ.

د زرنــــج ســـوبه مـــې د تـــورې پـــه مـــخ ســـور وكـــړه
پـــه بـــاداری مـــې لـــوړاوی د كـــول د ســـور وكـــړه
ستر مې تربور وكړه                    لـــه مـــا اتـــل نســـته
خپلـــــو وګـــــړو لــــره لــــور پېرزوينــــه كــــوم
دوی پـــه ډاډينـــه ښـــه بـــامم ښـــه يـــې روزنـــه كـــوم
تل يې ودنه كوم                    لـــه مـــا اتـــل نســـته
پـــر لويـــو غـــرو مـــې وينـــا درومـــي نـــه پـــه ځنـــډو پـــه ټـــال
نـــړی زمـــا ده نـــوم مـــې بـــولي پـــر دريـــځ ســـتايوال
په ورځو شپو، مياشتو كال   لـــه مـــا اتـــل نســـته(1)

1 -زېـــور، زېورالـــدين، د پښـــتو ادبيـــاتو تـــاريخ لرغـــونې دوره، مومنـــد خپرندويـــه ټولنـــه، ننګرهار، ۱۳۸۸ل كال، ۷۴-۷۵مخونه.

# د پښتو ژبې لومړنۍ ښځینه شاعره

زرغونه کاکړ: د پښتو شعر په تاریخ کې دا لومړنۍ ښځه ده چې موږ یې پېژنو او د ښځینه شاعرانو د ډلې سرلارې ده.

دا شاعره مېرمن د لرغونې دورې یوه پېژندل شوې شاعره ده چې د قندهار د پنجوایي وه، د پلار نوم یې ملا دین محمد کاکړ و او د خپل وخت مروج علوم یې زده کړل، د فصاحت احکام یې ولوستل او د عالمانو اشعار او اثار یې وویل، زرغونه د سعدالله خان نورزي په نکاح کې وه او د علم او هنر خاوندان زامن یې درلودل، دې مېرمنې د خپل عصر په شاعرانو کې شهرت درلود.

زرغونې په (۹۰۳هـ) د شیخ مصلح الدین سعدي پارسي بوستان په پښتو شعر وژباړه، یعنې لومړنۍ هغه شاعره چې شعر یې له فارسي ژبې نه ژباړلی دی هغه هم زرغونه کاکړ ده.

پر شعر او ادب سربېره د ښه خط خاونده هم وه او د خط ډېر ډولونه یې لېکلای شو، دا سې خوش خطه وه چې کاتبانو به یې له خط نه زده کړه کوله.

زرغونې په خپل ښه خط بوستان پښتو ته ترجمه کړی و چې مرغلرو یې خط ته عاجزي کوله.

د پټې خزانې په روایت زرغونې غزلیات او د اشعارو نور اقسام هم درلودل، چې په عالمانو او شاعرانو کې مشهوره وه مګر متاسفانه د زرغونې د غزلو کومه نمونه نه لرو، یوائې له هغه پښتو بوستانه یو حکایت د پټې خزانې مؤلف را نقل کړي، چې د زرغونې د کلام سلاست او متانت ځنې ښکاري که موږ په پښتو ادب کې د اخلاقي شاعرانو لپاره یوه مخصوصه ډله ومنو نو به زرغونه له خپل بوستان سره د هغو په

سر کې ولاړه وي، ځکه چې تر دې د مخه یوا خلاقي شاعر چې مستقل اثر ولري، موږ ته نه دي معلوم او زرغونه د شیخ سعدي د بوستان په منظومه ترجمه د اخلاقي شاعرانو له ډلې څخه بللای شو. د زرغونې د بوستان ترجمه شوی شعر د پند او نصیحت رنګ لري، چې یوه پېژندل شوې اخلاقي شاعره ده.

حکایت د پښتو (له بوستانه)

اوربدلي مې قصه ده
چې له شاتو هم خوږه ده
د اختر په ورځ سهار
بایزید چې وه روبدار
له حمامه راوتلې
په کوڅه کې تېرېدلې
ایرې خاورې چا له بامه
را چپه کړلې ناپامه
مخ او سر یې سو ککړ
په ایرو په خاورو خړ
بایزید په شکر کښو سو
د خپل مخ په پاکېدو سو
له ایرو به څه بدوړمه
یا به لږ شکوه کومه
هو، پوهانو ځان ایرې کړ
له لویني یې ځان پرې کړ
څوک چې ځان ته ګوري تل
الله ته نه سې کړای کتل
لويي تل په ګفتار نه ده

لــوی خبــره پــه کــار نــه ده
تواضــع بــه دې ســر لــوړ کــا
تکبــر بــه دې تــل ځــوړ کــا(1)

## د پښتو ژبې لومړنی غزل لیکونکی

اکبر زمینداور: د پښتو له نوموړکو شاعرانو څیني دي، د لرغوني دورې ډېری شاعرانو د ژوند احوال او اشعار په مکمل ډول ترموږ نه دي رسېدلي، د اکبر اثار هم ورک دي فقط یو څو پاڼې په زمینداور کې حبیبي صیب میندلې وې چې دا نوموړکی شاعر د هغو پاڼو په مرسته و پېژندل شو.

اکبر په داور کې زېږېدلی دی، دا شاعر د مغلو د دورې په پیل کې ژوندی و، په پښتو ادبیاتو کې اکبر زمینداوری لومړنی شاعر دی چې غزل یې ولیکه او په دې فورم کې یې یو ښکلی غزل ټولنې ته وړاندې کړ.

اکبر د ګوډ تېمور معاصر دی، نو د ژوندانه عصر یې په ۷۸۰هـ حدودو کې ټاکلای شو، ځکه چې امیر تېمور په ۸۰۰هـ د افغانستان ډېر ځایونه فتح کړل او له کابله یې د هند خواته حرکت وکړ. د اکبر ډېر لږ اشعار د زماني له انقلابه پاتې شوي دي، یوا ځې له څو زړو پاڼو څخه موږ اټکل کولای شو، چې دې د دیوان خاوند و او په شعر کې یې غزل او مثنوي موږ ته پاتې دي.

1 - حبیبي، عبدالحی، د پښتو ادبیاتو تاریخ، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴هـ کال، ۵۷۲-څخه تر ۵۷۴مخونه.

دده غزلیات او مثنوي سلیس او خواږه دي، په مثنوي کې اکبر د مینې د دنیا ډېر نازک حالونه او احساسات تصویر کړي دي، چې عاشق او معشوقه دواړه یو له بله سره غواړي، یوه د انجذاب قوه په ټولو کایناتو کې ساری نه لري، چې هغه عرفاء عشق بولي او نور پوهان یې د انجذاب په نامه یادوي.اکبر په خپل مثنوي کې دا خبره چې عشق په حقیقت کې معاشقه او د جذب یوه مجاذبه ده چې په ښه ډول یې اداء کړې ده او د مولینا یې روم سره همنوا مثنوي دی چې وایي:

زه چې ژاړم مراد مې دادی    چې اشنا له ما جلا دی

ځکه چې مولانا هم هره ژړا او ناره په (ازجدائي ها شکایت مېکند ) تعبیر کړی دی، اکبر له حیاته او احواله مونږ نه یو خبر، خو یوازې له یو څو اشعارو څخه دده د فکر ډول معلومېږي، چې د خپل عصر په ادب پوه سړی و او هغه ادبي تمایلات او ذوقونه چې د ده په عصر کې وو، ده ته ښکاره شوي و او په عین دغو ادبي جریانونو کې ده مخصوصا د پښتو شاعرانو د روحيې میلان او ذوق هم ساتلی وه.

د لرغونې دورې دغه نامتو او پېژندل شوی شاعر نور معلومات له مونږ سره نه شته خو زمونږ د پښتو ټولنې یو تکړه او غزل بول شاعر و، اکبر د پښتو ادبیاتو لومړنی غزل ویونکی دی، را ځو د غزل په تعریف غږېږو.(1)

د غزل پېژندنه: غزل په لغت کې د ځوانو هلکانو او جنکو خبرو، د

---

1 - حبیبي، عبدالحی، د پښتو ادبیاتو تاریخ، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴هـ کال، ۵۵۲-۵۵۷ مخونه.

محبوب د غړو ستاینې او د مینو (د عاشق او معشوقې) ترمنځ ګډو وډو، خبرو او ښځو سره لوبو ته وېل کېږي او په اصطلاح کې غزل د شعر هغه ډول دي چې سر تر پایه یو وزن او یوه قافیه ولري که ردیف ولري، نو هم د ټولو یو ردیف وي او که نه نو قافیه او وزن خو به ارو مرو یو شان وي، په یو بیت کې دوه مسرې وي او د ټولو بیتونو د دویمې مسرې قافیه یو شان وي د غزل او ل بیت ته مطلع وېل کېږي چې په لغت کې د ختلو او ښکاره کېدو ځای ته وېل کېږي شاعر هم له همدې لارې نه راخېژي او ښکاره کېږي، غزل لږ تر لږه پنځه بیتونه او زیات یې پنځلس بیتونه وي([1])

یا غزل هغه کیفیت دی چې په مخاطب اثر کوي او هغه د احساس او جذبې په حالت کې له ظاهري او نمایشي دنیا څخه په بله خوا وړي([2])

مثنوي

زه عاشق یم یار هم نېز
نورڅه نه لرو تمیز!
یو پر بله عاشقان یو
په خپل عشق کې صادقان یو
یو په بل پسې رنځور یو
چې نږدې نه یو مهجور یو
عشق که ښه دی که بلا دی
پیدا کړی زمونږ مولی دی

1- مسلم دوست، عبدالرحیم، خوږه ژبه، څلورم وار، ۱۳۸۸ل کال، ۲۳۲-۲۳۳مخونه.
2- همکار، محمد ابراهیم، د قافیې فن، دانش، پېښور، درېیم وار، ۱۳۸۲ل کال، ۴۷ مخ.

که ږغ نه کا عاشقان څوک
مړه سي دوی پر دا جهان
څوک
خوبه دواړو شهیدان وي
که رښتیني مسلمان وي
زه که مخ په اوښو سور کړم
زړه کباب صورت تنور کړم
ولې هر ځای زه بېلتون کړم
بیا د سرو او ښو رژون کړم
هم اشنا خوار کړم هم ځان
بیا تهمت کړم پر دوران
که نړدې که پر هېواد یم
زه د ده په خیال و یاد یم
زه چې ژاړم مراد مې د ادی
چې اشنا له ما جلا دی
که موږ بیا سره خوشحال سو
چې محکوم زموږ وصال سو
زه د یار سم یار مې خپل سي
زه بلبل سم یار مې ګل سي
په سپین مخ باندې تېږم
چې دی خاندي ترې جارېږم
دلیدو شربت یې نوش کړم
غم د هجر فراموش کړم

سره کښېنو په خندا سو
په دا تېر احوال ګویا سو
چې تېر سوی په هجران دي
خوشال شوي غمازان دي
چې غماز پاڅي له میانه
همنشین شم له جانانه
چې غماز له میانه دور سي
نور که شپه وي هم به نور سي
ولې یار زما خواهان دي
یا په عشق کې پهلوان دی
ډېر نفرت کا له غمازه
رب دې دی کا سرفرازه
که زلمی دې خو عاقل دی
بیا د عشق په کار کامل دی
خو په خپله ترې جلا شوم
مدام سر په واوېلا شوم[1])

***

## غزل

د خپل ځان له حیرانۍ څه وېل کړم
د عشق وېر به تل په خپله پټول کړم

---

1 - حبیبي، عبدالحی، د پښتو ادبیاتو تاریخ، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴هـ کال، ۵۵۴-۵۵۵مخونه.

ما مدام لکه بورا پر ګلو کښت کړ
اوس به ځم په سر تور سر فراق د ګل کړم
د غماز لړمون به زه په لمبه کښېږدم
ځینې هېر به د یار بزم ګل او مل کړم
زما د یار د مینې اور په زړه کې بل دی
زه به سر او مال ښندم دیر به حاصل کم
د بېلتون له ویره ژاړم او ښکې وینې
زه اکبر پر خپل اشنا د سر ښندل کړم
چې مدام زه ستا و مخ وته نظر وړم
د بېلتون له بیړې زړه زبر و زبر وړم
که په ما دې حکم وشي چې خادم شه
دغه ستا د نغري سور انګار پر سر وړم
چې جمال په مهر او مینه را ښکاره کې
شین توتي شم په هوا د مینې پر وړم
چې ګفتار دې په ښه مینه راته وسي
نو بېدای سم کوتې کوتې در ګوهر وړم
که مې وژنې که مې پېرې رضا ستا ده
ستا و غشي ته مدام موخه ځېګر وړم
چې جمال دې په هجران کې را په یاد شي
هغه دم په تصور شمس و قمر وړم
ستا د تورو څنو خیلا هسې طویل دی

تـل پـه زړه کـې دغـه فکـر زه اکبـر وړم([1] )

***

بدله

زه چې په مینه معشوقو د بنګړو شرنګ لره ځم
زه د هجـران د بېلتانـه د تـورو جنـګ لـره ځـم
زه اپوتـه یـم پـه هجـران سـره قـرار نـه لـرم
هجـر مـې اوږد شـو د وصـال د امیـد کـار نـه لـرم
بېلتـون پـه خولـه راکـړې ځاپېره زه لا عـار نـه لـرم
وام د معشوق پر سینه پروت زه تور لونګ لره ځم
ځینـې یـې ولـې ځوک عاشق ځـو رنـګ پـه تـورې
کانــــــــــــــــــــــــدې
پـر خـوار مـین د شـها هـومره هـورې ژورې کانـدې
چې را وپاځي په اخلاص چې خپل ځور نګ لره
ځـــــــــــــــــــم
اول خـو تـه نجلـۍ پـه عشق باندې اقـراره سـولې
اور دې را پورې کې نور کښېنستې قراره سولې
اور دې را پورې کې نور کښېنستې قراره سولې
هـیڅ ګفتګـوی لـه عشـقه نـه کـوې بېـزاره سـولې
یو وار خو، ووایه قرار چې د یار څنګ لره ځم(2 )

1 - حبیبي، عبدالحی، د پښتو ادبیاتو تاریخ، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴ه کال، ۵۲۰ مخ.

2 - حبیبـي، عبـدالحی، د پښـتو ادبیـاتو تـاریخ، پېښـور: دانـش خپرندویـه ټولنـه، ۱۳۸۴هــ کال، ، ۵۵۴-مخ.

# د پښتو ژبې لومړنی قصیده لیکونکی

شیخ اسعد سوري: د سوري کورنۍ تاریخي احوال موږ د مخه ولوستل او دا راته معلومه شوه چې د پښتو پخواني او ډېر لومړني اثار په دغې کورنۍ پورې اړه لري او کله چې دوی سلطنت درلوده ادبي ذوق هم ورسره و.

له دې کورنۍ او ټبره د پښتو یو بل مقتدر او اور ژبې شاعر هم راوتلی دی، چې نوم یې اسعد د محمد زوی و، دا شاعر په لرغوني دورې کې ډېر لوړ مقام لري او د ۴۰۰ هـ کال په شا و خوا کې ژوندی و.

اسعد سوري په غور کې اوسېده او هلته د سوري خاندان په پادشاهۍ کې ډېر عزتمند و، اسعد ډېر ښه اشعار و یل کله چې سلطان محمود غزنوي پر غور باندې له امیر محمد سوري سره جګړه وکړه او په اهنګرانو کې یې محاصره کړ، په دې وخت کې شیخ اسعد هم د اهنګرانو په کوټ کې و، هغه وخت چې سلطان محمود غازي امیر محمد سوري ونیوه او بندي یې بوت غزني ته، نو امیر محمد سوري چې زړه ور او عادل امیر و، له غیرته په بند کې مړ شو او شیخ اسعد چې دوست یې وه د امیر محمد سوري پر مرګ یې ساندې وویلې په ۴۲۵ هـ د زمیندا ور په بغنین کې وفات شو[1]

په پښتو ادب تاریخ کې د شیخ اسعد سوري قصیده لومړنۍ قصیده ده چې لاسته راغلې ده قصیده د لومړي ځل لپاره په عربي ژبه کې

---

1- حبیبي، عبدالحی، د پښتو ادبیاتو تاریخ، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴هـ کال، ۴۸۴ مخ.

مینځ ته راغلې بیا یې فارسي او پښتو ته لار پیدا کړه.
قصیده په عربي ادب کې لا موجوده وه او داسې ښکاري چې قصیده په دغه موجوده شکل او تعریف عجمي ملتونو له عربو څخه اخستې ده([1])

د پښتو قصیدو یوه عمده ښېګڼه بیا دا ده چې دوی د ستاینې او نمانځنې پر ترخ کې خپل ملي کړه وړه هم نه هېروي او خپلو قصیدو ته داسې جامې نه وراغوندي چې د پښتنو له دود او دستور څخه مخالفې او بېلې وي.([2])

محمد سوري په غور کې د سلطان محمود لوی معاصر رقیب او پایتخت یې اهنګران او زموږ د پښتو ډېر مقتدر او لوی شاعر اسعد هم له دې پاچا سره هلته اوسېده او محمد سوري د دربار یو قصېده ویونکی شاعر و.

محمد هوتک بن داود د پټې خزانې مؤلف د شیخ کته د لرغونې پښتانه په ذریعه د محمد بن علي له تاریخ سوري څخه یوه بولله(قصیده) رانقلوي چې شیخ اسعد سوري د امیر محمد سوري په وېرنه او غم کې وېلې وه په پښتو ادب کې لومړنۍ وېرنه هم دا ده. ([3])

د قصیدې پېژندنه: قصېده په لغت کې د عزم او ارادې په معنا ده او

1 - حبیبي، عبدالحی، د پښتو ادبیاتو تاریخ، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴هـ کال، ۱۱۷مخ.
2 - هېواد مل، زلمی، د پښتو ادبیاتو تاریخ، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۷۹ل کال، ۹۹ مخ.
3 - یون، محمد اسمعیل، پښتو شعر هندسي، جوړښت.

په اصطلاح کې هغه نظم دی چې د بیتونو شمېر یې له شپاړسو څخه زیات وي.
د قصیدې لومړی بیت مصرع وي او د نورو بیتونو دویم نیم بیتی یې په قافیه کې له لومړني بیت سره یو ډول وي، د قصیدې د ټولو بیتونو وزن یو شان وي.

## د محمد سوري په وېرنه کې یوه بولله

د فلـک لـه چـارو څـه وکـړم کوکـار
زمولـوی هـر ګـل چـې خانـدې پـه بهـار
هـر غټـول چـې پـه بېـدیا غوړېـده وکـا
رېـژوي یـې پـاڼې کانـدې تـار پـه تـار
ډېـر مخونـه د فلـک خپـېـړه شـنـه کـا
ډېـر سـرونه کـا تـر خـاورو لانـدې زار
د واکمـن لـه سـره خـول پرېباسـي مړسـي
د بې وزلـو وینـې تـوی کانـدې خونخـوار
چـې لـه برمـه یـې زمـری رپـي زنګلـو کې
لــه اکوبــه یــې ډاري تېــرو جبــار
هــم یــې غشــي ســکنې ډال د ژوبلــورو
رســتمان ځنــې څغــلا کانــدې پــه ډار
چـې یـې ملا وې نـه کړېـږي پـه غښـتليو
دا فلـک پـرې وکـا ـ څـه کـاري ګـزار
پـه یـوه ګرد ښت یـې پـرې باسـي لـه برمـه
نـه یـې غـشي نـه لینـدۍ وي نـه یـې سـپار
څـه تېـری څـه ظلـم کانـدې ای فلکـه

ستا لـه لاسه نه دی هیڅ ګل بې لـه خار
پـه وېرژلولـور نـه کـړي پـه زړه کراړيـه
پـــر نتليـــو اوروي د غـــم ناتـــار
هيڅ روغی مې په زړه نسته ستا له ځوره
بېلـــوي پـــه ژړا زړ مـــين لـــه يـــار
لـه تېريـو دې اوښـې څـاڅې لـه اوريځـو
چينـې ژاړي پـه ورتـ ورتـ ستا لـه شنار
نـه بـه لاس واخلي لـه ځـوره نـه بـه لـورې
نـه بـه مـلا کـړي لـه بـې وزلـو لـه تـرار
نـه بـه زړه وسـوځوې پـه هيچـا بانـدې
نـه بـه پرېـوځي لـه ګرد ښـته لـه مـدار
نـه بـه وصـل کـړې مـين لـه بـل مينـه
نـــه بـــه درملـــې ټپونـــه د افګـــار
ستا لـه لاسه دي پراتـه ژوبـل زګيـروي کـا
هـر پلـو تـه ټپـې زړونـه پـه ځـار ځـار
کلـه غـوڅې کانـدې مرانـدې د زړګيـو
کلـــه تېـــر باســـي وګـــړي هوښـــيار
کلـــه ټکـــې واچـــوې پـــر نـــازوليو
کلـه څېـرې کـړي ګرېـوان د نمنځـي چـار
کلـــه غورځـــوي واکمـــن لـــه پلازونـــو
کلـــه کښـــېنوي پـــه خـــاروو کـــې بـــادار
زمـــوږ پـــر زړونـــو دې نـــن بيـــا وو ښـــت
و دې ژوبللـــه پـــه دې غشـــي هـــزار

پـر سـوريو بانـدې وېـر پرېـووت لـه پاسـه
محمـد واكمـن چـې ولاړې پـه بـل دار
يـو وار شـو اسـير پـه لاس د مېرځمنـو
انتقـال يـې وكـړ قبـر لـه بـل وار
پـــه ســـماويې ودان اهنگـــران و
پـه ټېكنـه و پـر درسـت جهـان او ځـار
د محمـود ژوبلـورو پـه لاس كېښـوت
چـې غزنـه تـه يـې بـاتلي پـه تلـوار
ننگيـاليو لـره قيـد مړينـه ده ځكـه
سـه يـې والوتلـه هسـک تـه پـردې لار
تـر نـړۍ يـې غـوره خـاورې هـديره كـا
د زمريـو پـه ببرېـو كلـه وي څـوار
پـه دې ويـر د غـور وگـړي تـور نمـري شـول
پـه دې وېـر رڼـا تيـاره سـوله د ښـار
گـوره څـاځي راڼـې اوښـې لـه دې غرونـو
دا كړونگـې سـاندې لـې پـه شـور هـار
نـه هغـه زرغـا د غرونـو د بيـديا ده
نـه د زركيـو پـه مسـا دې كټهـار
نـه غټـول بيـا زرغـونېږي پـه لاښـونو
نـه بـامي بيـا مسـيده كـا پـه كهسـار
نـه لـه غرجـه بيـا راځـي كـاروان د مشـكو
نـه را درومـي غـور تـه بيـا جـوپې د شـار
د پسـرلي اوره تـودې اوښـې توينـه

مرغلري به نيسان نه کړي نثار
دا په څه چې محمد ولاړ له نړيه
په ويرنه يې سو غور ټول سوګوار
نه ښکاريږي هغه سور د سور په لټو
نه ځلېږي هغه لمر پر دې د يار
چې به نجليو په نڅا پکې خندله
چې به پېغلو کا اتڼ قطار قطار
هغه غور سو د جاندم غوندې سوړار
لاس دې مات سه اى فلکه چې دې وکا
محمد غوندې زمرى د مړينې ښکار
شين زړګى فلکه ولې لا ولاړ يې
اى د غور غرونو په څه نه سوئ غبار
مځکې ولې په ربړدلو نه پرېوځې
لاندې باندې سه چې ورک سي دا شعار
چې زمري غوندې واکمن ځي له جهانه
چې څوک نه کړي په نړۍ باندې قرار
سخ په تا اى محمده د غور لمر وي
په نړۍ به نه وي ستا د عدل سار
ته پر ننګه وې ولاړ په ننګ کې مړ سوې
هم په پر ننګه دې په ننګه کا ځان جار
که سوري دې په تګ وير کا ندي وېرمن
سول
هم به وياړي ستا په نوم ستا په ټبار

په جنت کې دې وه تون زموږ واکمنه
هم په تا دې وي تون زموږ واکمنه
هم په تا دې وي ډېر لور د غفار[1]

1 - حبيبي، عبدالحی، د پښتو ادبياتو تاريخ، پېښور: دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۴هـ کال، ، ۴۸۴-۴۸۸ مخونه.

# د پښتو ژبې لومړنۍ څلوریزه (رباعي) لیکوال

خلیل خان نیازی: نیازي د پښتو یوه مشهوره قبیله ده چې د لودیانو یوه پښه شمېرل کېږي، نیازي د لودیانو سره یو ځای په هند کې خپاره شوي دي، یو شمېر د دوی د افغانستان په قندهار، غزني، شږکیو او لغمان کې هم شته.
ددې کورنۍ څخه په هند کې مشهور جنګیالي او مشران راوتلي دي، د لودیان او سوریانو په دوره کې یې ډېر مشاهیر درلودل مثلاً هیبت خان نیازی د شېر شاه سوري په وخت کې (اعظم همایون) د لاهور حکمران و.
نیازیان د لودیانو او سوریانو غښتلي ملګري وو او تر اوسه یې هم ځینې کسان په هند کې شته، له دې قبیلې څخه یو سړی خلیل خان دی، چې دی د سلطان بهلول لودي د دربار شاعر او ادیب و او محمد هوتک د پټې خزانې مؤلف د ده یوه مدحیه رباعي راوړې ده. محمد رسول کلاتوال په خپل کتاب بیاض کې هسې لیکلي دي، په هندوستان د برسات په موسم کې خلیل خان نیازي هسې رباعي انشاء کړه او د سلطان بهلول پادشاه په مخ کې یې ووېله.
د خلیل خان د دې رباعي په ځواب کې پښتون شهنشاه سلطان بهلول لودي بله رباعي ووېله، د خلیل خان نور اثار متاسفانه زموږ لاسته نه دي راغلي او داسې ښکاري چې د سلطان بهلول لودي د دربار پښتون شاعر و. خلیل خان په خپله مدحیه رباعي کې په ډېر ښه صورت د خپل ممدوح ستاینه کړې ده، پښتو ادب کې لومړنۍ

ثلوربزه چې لاسته راغلې ده هغه د خلیل خان نیازي ده دې نه مخکې موږ بل کوم داسې شاعر نه لرو چې کومه رباعې دې ولري.

د ثلوریزې (رباعي) پېژندنه: د شریکو یا عروضي ډولونو نه یو ډول دی په عربي کې ورته رباعي وايي، د ثلوریزې ثلور متحدالوزنه نیم بیتي وي د ثلوریزې لومړی بیت مصرع او دویم بیت یې کله مصرع او کله غیر مصرع وي د مفهوم په لحاظ په ثلوریزه کې یو مطلب ذکر کېږي، چې په لومړي نیم بیتي کې پېل کېږي او په ثلورم نیم بیتي کې پای ته رسېږي.

د خلیل خان نیازي په رباعي کې لومړني دوه نیم بیتي سره هم قافیه او درېیم نیم بیتی په قافیه کې له لومړیو نیم بیتیو سره یو شان وی.اصلي مطلب په لومړي نیم بیتي پېل او په ثلورم نیم بیتي پای ته رسېږي([1])

## رباعي

خـرې وربځـې ژاړي لـه پاسـه
کوېلـه رغ کـا ، بېلتـون لـه لاسـه
پـه هغـه لـوني ګـوهر پـه خـول ستا
دا مرحبـا کـه سـتا زمـوږ
مواسـه(2)

---

1 - همکار، محمد ابراهیم، قافیې فن، دانش، پېښور، ۱۳۸۲ل کال، ۴۹ مخ.
2 - حبیبي، عبدالحی، د پښتو ادبیاتو تاریخ، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴هـ کال، ، ۵۲۴-۵۲۵مخونه.

# د پښتو ژبې لومړنی ترکیب بند لیکونکی

خوشحال خان خټک: د شهباز خان زوی، د یحی خان لمسی د ملک اکوړي کړوسی په ۱۰۲۲هـ ۱۶۱۳م کې له پېښور نه ۳۵ میله لمر خاته خواه په اکوړي کې وزېږېده.
کله کله ځینې ماشومان له ډېرې لویې برخې سره دنیا ته راځي او ډېر لوی سر نوشت یې استقبال کوي د دغه ماشوم په وچولي کې هم لوی الله تعالی ډېرې سترې کارنامې لیکلې وې چې هغه وخت چانه شوای لوستلی او نه هغه لویوالی چاته معلومېده چې په ده را روان و.
ډېره موده وروسته ثرګنده شوه چې په ده کې فوق العاده استعداد موجود دی او له ده نه داسې لوی سړی جوړېږي چې په پېړیو پېړیو به د یوه اتل او ډېر ستر شاعر په حیث په ډېر درانه نامه یادېږي او هغه خدمتونه چې دی یې په توره او قلم د پښتو او پښتونولۍ د حیات او بقاء لپاره کوي دومره وزن او درنښت به پیدا کوي چې هیڅکله به یې د فراموشۍ سېلاب له نړۍ څخه نه شي وړلی.
د خوشحال خان توره او توریالیتوب او د ده شعر او شاعري دواړه بې ساري معلومېږي او دا قضاوت ګران غوندې دی چې په دې دواړو خواو کې کومه خوا ډېره درنه ده.
د ده شعر و شاعري له شل کلنۍ څخه شروع کېږي او په جنګ وجګړو کې په ۱۳ کلنۍ کې ګډون کوي یعنې کله چې د یو سفزیو لښکر په ۱۰۳۵هـ کې په خټکو حمله وکړه خوشال خان په دغه جنګ کې شامل و.

له نن نه درې نيم سوه کاله پخوا د پښتو ژبې دغه لوی او ستر شاعر د افغانيت په نامه د پښتو او پښتونولۍ سندرې شروع کړې او له شعر سره يې د مليت احساسات او جذبات ملګري کړل

دا يو لوی ادبي تحول و چې دغه نوميالي شاعر منځته را ووست او د شعر مخه يې يوې ډېرې مهمې اجتماعي موضوع ته را وګرځوله.

په هغه وخت کې د مليت احساس په دغه ډول ځان نه و ښکاره کړی او مستقل وجود يې نه درلود په شرق کې لا څه چې په غرب کې هم دا فکر غريب شانته و او د نړۍ ډېر ولسونه ورسره نا شنا وو.

په ځينو خلکو کې که دا جذبه لږه ډېره موجوده هم وه نو صحيح تعبير او تفسير يې نه و شوی او په نورو جذباتو کې ورکه وه.

د خوشحال خان نبوغ همدغه دی چې له نورو نه ډېر پخوا د مليت په مفهوم او معنا پوه شوی و او د خپلو اشعارو په وسيله يې د مليت نبلۍ او رېښې په پښتو ادب کې ټينګې کړې تر خوشال خان د مخه که څه هم ميا روښان او د هغه زامنو څو ځله پښتانه له مغولو سره د ملي ازادۍ لپاره وجنګول مګر هغه جنګونه په پټه خوله و او د افغانيت په نامه کوم ادبي تحريک ورسره ملګری نه و سربېره په دې د جنګ او جګړې مشرانو هم ظاهرا روحاني بڼه درلوده او د پيرۍ په جامه کې و..

خوشحال خان هغه څوک و چې په ده کې فکر او خيال عمل او اراده ډېر ښه يو ځای شوي وو او له ډېرې لوړې قريحې سره يې لوړ شخصيت لويه اراده او ځلانده توره هم لرله.

دا ډېره لږه پېښېږي چې يو سړی د بزم په مجلس کې هزار داستان بلبل وي او په رزم کې د باز او شاهين تېرې منګولې ولري دا راز يو

له بل ترنده صفتونه په یوه شخص کې په ډېر ندرت جمع کېږي، چې خوشال یې ډېر ښه مثال دی.

د خوشال خان د توري او شهامت کیسه به پرېږدو د دده شعر او شاعرۍ او قلمي اثارو ته به را شو د خوشال خان له خپلې وینا څخه معلومېږي چې دی د شلو کالو و چې په شعر و یلو یې شروع وکړه نو د ده شاعري له ۱۰۴۲هـ څخه شروع کېږي او نږدې ۵۸ کاله دوام کوي په دغه موده کې څومره اشعار او څنګه اشعار چې ده ویلي ي هغه هم د ډېرښت او هم د تنوع په لحاظ د بل پښتانه شاعر په برخه شوي نه دي.

د ده په دیوان کې عشقي، حماسي، اخلاقي، فکاهي او حکایوي شعرونه په مختلفو اقسامو موجود دي یعنې غزلې، قصاید، رباعیات، قطعات، مخمس، مسدس، مثنوي، ترجیع بند او ترکیب بند هر څه لري او د ژوندانه په هر اړخ او هر خوا کې غږېدلی دی.په پښتو ادب کې لومړی ترکیب بند ویونکی شاعر خوشال بابا دی.

د خوشال خان دا خبره رښتیا ده چې پښتو شعر د ده په وسیله ډېر انکشاف وموند او د کم وکیف په لحاظ پکې ډېر لوی تحول راغی ده د نورو لپاره ډېره لویه لاره پرانیستله او په ده پسې د شاعرانو ډېر لوی کاروان را روان شو.

ده ته په حقه د ادبي قافلې سالار وېلای شو او د پښتو ژبې په ادبي خدمت کې د امامت حق لري، که څوک د پښتو شعر په تاریخچه یو سرسري نظر واچوي دا به ورته څرګنده شي چې له خوشحال خان خټک نه وروسته په ده پسې د پښتو ډېر زیات شاعران او د دیوان خاوندان را پیدا شول او په همدغه سبب ده ته د پښتو ادب پلار او د دغه لوی او پاخه نهضت موسس وېلی شو.


www.samsoor.com

خوشحال بابا يو له هغو نامتو او پېژندل شويو شاعرانو ځينې دی چې پښتو ادب ته يې نه ستړي کېدونکي خدمتونه کړي او د لومړي ځل لپاره د ترکيب بند په فورم کې شعر دې وېلی دی، چې د خوشحال خان د دېوان نه يې دلته راوړو.

د ترکيب بند پېژندنه: ترکيب بند د شريکو نظمونو هغه ډول دی چې شاعر لومړی څو هم وزنه بيتونه راوړي چې لومړی بيت يې کله مصرع او کله غير مصرع وي او نور بيتونه يې غير مصرع وي که چېرته د بند لومړی بيت يې مصرع وي او نور بيتونه يې غير مصرع وي بناء د نورو بيتونو دويم نيم بيتې يې له لومړي بيت سره قافيه کې يو شان وي په ترکيب بند کې د هر بند څخه وروسته يو مصرع بيت راځي چې وزن يې د پورتنيو نيم بېتو سره يو شان وي خو قافيه يې بدله وي، خو په ترجيع بند کې د هر بند څخه وروسته يو مصرع بيت راځي چې وزن يې د پورتنيو نيم بيتو سره يو شان وي او قافيه يې هم يو شان وي د ترکيب بند هر بند په قافيه کې له نورو بندونو سره توپير لري مګر د وزن په لحاظ په تول راځي دا يې فرق دی بندونه يې يو ډول وي.

ترکيب بند

دل ارامــــه کـــــه د مـــــاد درد دوا کـــــا
ســـــکه اول دې هـــــم د مهـــــر دارو راکـــــا
د دلـــــدارو هـــــوا دار لـــــه درد او دوکـــــه
د مـــــادم داه ســـــر د ســـــره واواکـــــا
د وصـــــال ســـــودا ســـــودا د ســـــرومال ده
هـــــر ګـــــدا کـــــه دا ســـــودا او دا ســـــودا کـــــا

د ادم د ال اولاد سره کل مکر
که د دور رسم داوو اوس هم دا کا
درومه درومه ګیله مه کوه له د وره
کله کله دورهم مراد ادا کا
دا مهر وملو که وګوره له اصله
کله دي ومرد ، مراد ورکړه له وصله
دل ازارې ! که دې څه ربه ډاردی
زړونه مه ازاروه روی د دا داردی
ته چې ژاړې په زار زار ژړا دې اورم
دا دې واړه درد و دوک زړه دې ازار دی
دواړه وروځې دې دلدارې په څه راز دي
چې دې زار په زړه دارو شه د زړه زار دی
د زړه درد که په زارۍ په زر او زور وي
ای ! د زړه له درده روغه په دا ډاردی
چې د زړه له درده روغ دي په زړه روغ
دا چې ژاړي ژړا ښه ده په دروغ
تا چې کړې له هر چا سره یاري ده
ښکاره کړې دې له یاره طراري ده
ته چې ځان ګڼې دلداره ای دلداره
کله چا له تا لیدلی دلداري ده
ستا د قهر طاقت هیڅ را څخه نه شته
راشه قهر له زړه لېرې کړه زاري ده
دا چې کله عاشق خاندې کله ژاړي

WWW.SAMSOOR.COM

دا یــې تللــي لــه خــاطره کــراري ده
کــه د سربښــندنه ګرانــه تــر هــر څــه ده
چــې لــه یــاره ســر ســاته شــي اغیــاري ده
تــه چــې ســر ســاتې لــه یــاره اغیــاري کــړې
شېرین ځان تر اشنا ځار کړه که یاري کړې
زه زایــر یــم ځانــه، ســتا تــر تلــه تلــه
تــر تــا ځــار شــم ځانــه ډېــر ښــه یــې تــر بلــه
چــې د غــم پــه ګــزه دې زه زهیــر شــهید یــم
تــل تــل خانــده، تــل تــل خانــده تــه قاتلــه
چې تل تل په قهقه خاندې زهېرېږم خو بې
نرخــــه تویــــوې د خــــوږو تلــــه
یــو پــه شــله ښایســته د جونــو خانــه
تابــه ســتایم تــا بــه ســتایم یــو پــه شــله
تــه جانــا تــرو تــازه ترنســترنه
زه زهیــر خســته جلیــایم تــر بلبلــه
تــر بلبلــې جــلای زه زهیــر خســته یــم
چــې بلبلــه پــه غوغــا زه فــم بســته یــم
نــن یــې لــوېې څنــې کــج کــړې څــو څــو خمــه
لــوېې څنــې یــې خــم خــم تــر قامــت ســمه
عاشــق کلــه یــو ســاعت بــې جانا پــایي
کجــه لــو کــه مــاهي هــم پــایي بــې یمــه
مــخ پــه مــخ شــه ماتــه خانده چــې خاطــر مــې
هوســي شــي پــه خوښــۍ شــي تــل بــې غمــه

ځـو خـوبي لـرې ګـل بـرې قـد عرعـرې
پــه ښــه مــخ لکــه لالــه يــې لا پرنمــه
ګل و مل چې مخ په مخ شي پرې خوښي
شــــــــــــــــــــــــي
توتـا کلـه ګويـا يـې کـا بـې موسـمه
ګـل خوشـي شـي پـه موسـم ګـل نـرګس
ځولالــه بــالا لولــو کــا عــالم کــس[1]

1 - خټک، خوشحال خان، دېوان، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۴ل کال، ۵۲۲مخ.

WWW.SAMSOOR.COM

# د پښتو ژبې لومړنی ولسي شاعر

شیخ بوستان بړیڅ: بوستان بړیڅ د محمد اکرم زوی، د پښتو له ادبي او روحاني مشاهیرو او لیکوالانو څخه دی، پلار یې د قندهار په ښوراوک کې اوسېده چې روحاني او پېژندل شوی شخصت و ، د پښتو ژبې اولین ولسي شاعر دی، دې نه مخکې چا په فولکوریکو ادبیاتو کې کار نه و کړی شیخ بوستان په قوم بړیڅ و او د ښواروکه ولاړ، د هلمند پر غاړو یې دروېشانه ژوند کاوه او په عبادت به بوخت وو. بوستان په ځوانۍ کې هند ته ولاړ او په سېر او سیاحت مشغول شو ، دغه ګرځېدل او سیاحت بوستان یې شاعرۍ او لیکوالۍ ته اړ کړ،او د فطرت په مطالعه بوخت شو.

شیخ بوستان د پښتو ژبې لیکوال، شاعر او مؤلف دی چې مورخان یې ښه پېژني او د ده روحاني شهرت هم تر نورو شاعرانو خورا لږ نه دی.

نعمت الله هروي د مخزن افغان مؤرخ لیکي(( په ځوانۍ کې له دوهه هندوستان ته راغی او په سمانه کې مېشت شو او په تجارت بوخت شو ، تل به یې سترګې د اوښکو ډکې وي ))

د مخزن له دې بیانه زموږ د شاعر اخلاقي هویت ښه ښکاري او دا څرګندوي چې شیخ بوستان بړیڅ سیاح او ګرځنده سړی و او ود عمر تر پایه هم په سیاحت بوخت و ، نعمت الله د عمر په اخر کې د بوستان ملګرو او له ده یې خوارق لیدلي وو ، دی وایي ددریاب په سفر کې د بوستان ملګری وم. ،چې د ګجرات، احمد اباد ته راغلو ، شیخ راته وویل: چې زما عمر پوره دی او هم دې د جمعې په ورځ چې د ربیع الثاني ۱۱ مه وه، په ۱۰۰۲هـ کال د اسهال په مرض د ماسپښین تر

لمانځه وروسته مړ شو او هماغلته ښخ شو، شیخ بوستان که څه هم پر کور ناست سړی نه و او عمر یې په سیر او سیاحت تېراوه، خو بیا هم کوم وخت چې د جهان له مطالعې فارغ شو، نو یې قلم را واخیست او په پښتو یې ښه اثار ولیکل.

تر مرګ څلور کاله د مخه په ۹۹۸ هـ کال خپل وطن ته راغی او د خپلو مطالعاتو نتایج یې په یوه کتاب کې را ټول کړه چې نوم یې بوستان الاولیاء و، د پټې خزانې له کتابه ښکاره ده، چې دا کتاب هم د روحاني خلکو تاریخ و او هم د پښتو رجالو او مشاهیرو اشعار او احوال پکې و، کله چې محمد هوتک د خپل پلار په روایت د غه کتاب په ښوراوک کې د حسن خان په کور کې لېدلی و د شیخ تیمن اشعار او احوال چې د پښتو ادبیاتو یو ستر شاعر او لیکوال دی له بوستان الاولیاء څخه را نقل کړي دي.

بوستان الاولیاء د پښتو شاعرانو احوال او اشعار هم درلوده او علاوه پردې شیخ خپل اشعار هم پکې راوړي وو.

محمد هوتک وایي: بوستان د خپل عصر شاعر او مؤلف سړی و چې په پښتو یې اشعار وېل او روحاني ژوند یې کاوه، په عشق او مینې ګرفتار و، محمد هوتک خپل د خولې د شیخ بوستان بړیځ یوه بدله را نقلوي چې د ولسي یا فولکوریکو ادبیاتو یوه غوره ژانر او ډول دی او په وطني وزن یې ویلې ده(1)

د بدلې پېژندنه: بدله د پښتو په ځینو سیمو کې په عام ډول ټولې

1 - حبیبي، عبدالحی، د پښتو ادبیاتو تاریخ، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴هـ کال، ۵۸۸-۵۸۵مخونه.

ولسي سندرې لکه لنډۍ، سروکي، د واده سندرې، چهاربیتې، نیمکۍ او نورې بدلې بولي خو بدله ځانته ځانګړي ولسي او فولکوریک فورم لري.

بدله شفاهي ده او خوله په خوله، سینه په سینه یو بل ته سپارل شوي دي خو لومړنۍ بدله د شیخ بوستان بړیڅ ده چې د لسمې پېړۍ په وروستۍ لسیزه کې کې تر زرم کال وړاندې ویل شوي ده.

په عمومي ډول بدلې په شکلي لحاظ په ۱۵ ډولونو وېشل شوي دي او که پلټنه وشي ښایي تر دې هم زیات ډولونه ولري.

ولسي بدلې لومړۍ یو کسر (مطلع) لري او ورپسې یې بندونه وي، مطلع یې له یوې او ږدې او یوې لنډې مسرې څخه جوړوي چې بیا د قافیوي تړون له مخې له هر بند سره ټول تکرارېږي.

دوه نیم بیتي یې سره هم قافیه وي لومړنی نیم بیتی یې اوږد او ورپسې نیم بیتی یې لنډ وي، د بند هره اوږده مسره یې تقریبا د لومړني بیت له اوږدې مسرې او لنډه یې له لنډې سره برابره وي او د بند په پای کې د بدلې لومړی بیت بیا تکرارېږي([1])

## بدله

اوښکې مې څاڅي پر ګرېوان یو وار نظر که پر ما
راسه ګذر که پر ما
د مینې اور دې زما زړګی وربت په انګار کېنا
ښې تار تار کېنا
خود به ولېږم چې مې زړه پر تا مفتون کېنا

1 - یون، محمد اسماعیل، پښتو شعر هندسي جوړښت، ۱۳۷۷ل کال، ۱۱۸ مخ.

ځان مې زبون کېږنا

اوښکې مې څاڅي پر ګرېوان يو وار نظر که پر ما
راسه ګذر که پر ما
وکه نظر زما پر حال چې پروت رنځور يمه
تل په وير ناسور يمه تل
له زړه مې څاڅي وينې سور په وينو خپل يمه تل
په اور جلبل يمه تل
اوښکې مې څاڅي پر ګرېوان يو وار نظر که پر ما
راسه ګذر که پر ما
له درده سوزم تل ناري او غلبلې وهمه
کريږې سورې وهمه
يوان مې چېرې نه ارام نه تيکاونه وينم
نه راحت کړنه وينم
اوښکې مې څاڅي پر ګرېوان يو وار نظر که پر ما
راسه ګذر که پر ما
د خوږو زړو له حاله ته يې اى باداره اګاه يې
د بې وزلو همراه
د خپل عزت په روى به تا ته کړم د مهر ښيندل
کړې له ګناهه ګوابښل
اوښکې مې څاڅي پر ګرېوان يو وار نظر که پر ما

راسه ګذر که پر ما(1)

1 - حبیبي، عبدالحی، د پښتو ادبیاتو تاریخ، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴هـ کال، ۵۸۸ مخ.

# د پښتو ژبې لومړنی داستان لیکونکی

حافظ عبداللطیف اڅکزی: عبداللطیف اڅکزی د پلار نوم غلام محمد د قندهار په هاشور نومې ځای کې اوسېده، عبداللطیف د کوچنیوالي په علم شروع وکړه، قرانکریم یې حفظ کړ او ورسره یې ډېره مینه درلودله دی د خپل وخت یو تکړه لیکوال او شاعر وه او ډېر خواږه اشعار یې وویل په شعر کې یې طبع ظرافت ته مایله ده. په پښتو ادب تاریخ کې دا لومړنی منظوم داستان لیکونکی دی، له ده نه مخکې موږ داسې کوم بل داستان لیکونکی نه لرو.

حافظ صاحب داسې قصې او حکایتونه نظم کړه چې د اورېدونکو لپاره د عبرت او پند سبب وګرځېده.

د ۲۰ کالو په عمر یې داسې اشعار وېل لکه د ځوانانو او د ځوانانو په مجلسونو کې به ناست و او دوی به یې په خپلو اشعارو خوشحالول.

محمد هوتک بن داود په پټې خزانې کې د دې یو منظوم داستان را نقل کړی دی چې په لاندې ډول دی:

## قصه د سوی او اوښ

غوږ ونیسئ یارانو دا د سوی او اوښ قصه سوه
خورا ډېره خوږه سوه
یو سوی د اوښ اشنا شو
بېحده یې همراه شو
یاري به یې کوله یو له بله یارانه سوه
خورا ډېره خوږه سوه
اوښ ووېل چې سویه!

ای زما یاره نېکخویه
بېتا مې ښادي نه شتـه شپه او ورځ په تا ښه سوه
خوراډېره خوږه سوه
ټول عمر يې صحبت کا
د سوی سره يې الفت کا
شېبه يې بېلتـون نه کـا يو له بلې مرکـه سوه
خورا خوږه قصه سوه
سوی و د اوښ پـه کـور کې
ژوندون يې په سرور کې
قصه به يې شروع کړه هر سهار خو به غرمـه سوه
خورا  خوږه قصه سوه
سوی تل مېلمه د اوښ و
دوستۍ کې ډېر په هوښ و
خپلوي سوه هسې ټينګه چې به پرې نه په برمه سوه
خورا خوږه قصه سوه
اوښ هم عزت د سوی کا
ساتنې د ابرو کا
د يار د زړه د پاره به مقبول نه پلـمه سوه
خورا خوږه قصه سوه
يـو ورځ سوی ميلمستيا کړه
د اوښ د پاره يې دا کړه
خپلوان يې را خبر کړله د سوی ټولـه ميلمه سوه
خوراخوږه قصه سوه

اوښ راغی د سوی کور ته
یو غار یې ولید پور ته
دا تنګ په هسې شان وو چې نه ځای یوه ګونډه سوه
خورا خوږه قصه سوه
راوړي یې خواږه وو
یو څه وه لږ وانبه وه
دا ټوله چې یې راوړله د اوښ یوه ګوله سوه
خورا خوږه قصه سوه
اوښ وږې ولاړه کور ته
ختلای نه سو پور ته
سویانو یې ځای نه درلودی ټوله شرمنده سوه
خورا خوږه قصه سوه
سویانو جمعیت کا
ها سوی یې ملامت کا
وېل ستا و داوښ څه دي چې دوستي سره توده سوه
خورا خوږه قصه سوه
چې سوی اشنا د اوښ سي
باید چې لږ په هوښ سي
د اوښ د پاره ښايي چې پیدا یوه مامته سوه
خورا خوږه قصه سوه
هر څوک چې یاراني کا
چې پېل کا پېلخاني کا
هر چا له مناسبه اشنايي او طریقه سوه

خورا خوږه قصه سوه
چې څوک مناسب کار کا
عبرت له دي ګفتار کا
له خپل تغره سمه د هر چا پښه را اوړده سوه
خورا خوږه قصه سوه1 )

# د پښتو ژبې لومړنی ساقي نامه لیکونکی

زرغون خان نورزی: نورزي د پښتنو یوه لویه طایفه ده چې په فراه، نوزاد او دهراوت کې اوسېدل او زرغون خان په دوی کې یو لوی جنګیالی او ادیب سړی تېر شوی دی، د پټې خزانې مؤلف د دوست محمد کاکړ د غرغښت نامې په حواله لیکلي: زرغون خان د نوزاد (زمینداور) و او د قوم مشر توب یې کاوه.

کله چې ماوراء النهر شیباني خان پر هرات او سیستان هجوم وکړ، نو زرغون خان د وطن له مدافعینو څخه ګڼل کېده او له متهاجمینو سره یې سختې جګړې کړې دي، زرغون خان په ۸۹۱هـ د هرات، خراسان او عراق سفرونه وکړه او چې شیباني خان په سیستان راغی نو زرغون خان د خپله قومه سره له وطنه دفاع کوله او خپله ازادي یې ساتله په پښتو تاریخي بهیر کې زرغون خان لومړنی شخص دی چې ساقي نامه یې پښتو ژبې کې لیکلې ده.

زرغون خان یو ملي قاید او د وطن ازادیخوا، مدافع او جنګیالی سړی و، علاوه پر دغه د قلم او علم خاوند هم و، لکه د ازادۍ د جګړو پر ډګر چې په مېړانه درېده، دغسې د علم او ادب په میدان کې هم

---

1 - محمود هوتک بن داود، پټه خزانه، قندهار، ۱۳۸۱ل کال، ۸۷-۸۹مخونه.

ځلېدونکی ستوری و.

زرغون خان خورا ډېر عمر ژوندی و او د نهایت ضعیف او سپین ږېرتوب پر وخت په ۹۲۱ هـ د قندهار په دهراوت کې وفات شوی دی.

زرغون خان د پښتو ژبې ښه شاعر او دیوان خاوند دی، چې دده دیوان په کجران کې په ۹۱۲ هـ له ملا ایوب تیمني سره و او په دغه کال چې دوست محمد کاکړ هرات ته تلو هلته یې دا دیوان کتلی و چې ۳۰۰ پاڼې یې درلودې او دغه سړی په خپل کتاب غرغښت نامه کې له هغه دیوانه دا دوه یزه (مثنوي) نقل کړې دي چې د پټې خزانې مؤلف هم له هغه کتابه را اخیستي دي.

د زرغون خان دغه د ساقي نامې مثنوي د نهمې هجري پېړۍ له هغو اثارو څخه ده چې د فارسي ژبې تاثیرات پکې ډېر زیات دي، په دغه پېړۍ کې هغه پښتانه چې په سمو او ښارونو کې یې ژوند کاوه په پوره ډول د فارسي ادب تر اثر لاندې راغلي دي لکه د زرغون خان د مثنوي کلمات چې اکثر فارسي او عربي دي دغسې هم تخیل او د شاعر اداء، طرز او د کلام نوعیت هم پوره فارسي ته ورته دی، د فارسي ژبې په پخوانیو شاعرانو کې مخصوصا د غزني د دربار څخه یعنې د ۴۰۰ هـ له حدودو نه چې اشعار او خمریات ډېر شوي دي، اکثره شعراء د فارسي ژبې د خپلو قصایدو د تشبیت برخه په نرمې او خمریاتو مضامینو سره کوي وروسته د فارسي ژبې نورو شعراؤ د قصیدو د تشبیب برخه په تصوف او عرفاني مسایلو ښکلې کړې.

د ساقي نامې پېژندنه: په ساقي نامه کې د شعراؤ لار داوه چې اول به له ساقي څخه د سرو مېوارزو کوله د ساقي، جام او میو صفات به یې بیانول، د دنیا بې وفايي او یو څو ورځې ژوندون په خوښۍ سره

تېرول او بزم په مېو تودول، د ساقي نامو عمومي مضمون و.
لنډه دا چې د عربو د خمريه اشعارو تقليد عجمو شعراؤ وکړو او ورو ورو د ساقي نامې وېلو سبک په فارسي ادب کې پيدا شو، نورو د فارسي ژبو شاعرانو يې هم تقليد وکړ مګر په ساقي نامو کې د شاعر مهارت او استادي داوه چې د مستۍ احوال تصوير کړي او د مستانو په شان خبرې وکړي د استادانو ساقي نامې ټولې له مستۍ او ذوقه ډکې دي او هغه شعراء چې په ساقي نامه کې مستي نه کوي او د عقلاؤ په څېر خبرې کوي، د دوی ساقي نامې د ادب له پلوه ښې نه ګڼل کېږي.
دا وه د فارسي ساقي نامو په اړه لږ معلومات چې پورته ذکر شو زرغون خان هم په دې پښتو ساقي نامه کې د استادانو پر لار تللی او مستانه وينايې کړې ده دده شعر روان او خبرې يې هم د مستانو په څېر دي ځکه نو دده يو کامياب او پوخ ساقي نامه ويونکی وايو او دا ساقي نامه هم له پښتو اشعارو څخه ګڼو:

## ساقي نامه

ساقي پاڅه پياله راکړه
مرور يار مې پخلا کړه
او به تويې په لنبو کړه
اور مې مړ په دې اوبو کړه
پسرلی سو غنچه ګل کا
زلفې تاوې د سنبل کا
بلبلان شور وفغان کا
کړيدن په ګلستان کا

زاهد وزې صومعې څخه
شراب پېرې ميخانې څخه
هر سړی په ميو مست دی
د ې بهار کې ګلپرست دی
په راغو کې سرې لمبې دي
د غټولو ننداري دي
جهان ټول سور او زرغون سو
وچ راغه ښکلی ګلګون سو
سرې ټول شور وغشب کا
ياراني کاندې طلب کا
بهار وقت د ياراني دی
ښه موسم د پيماني دی
نو ساقي پاڅه بهار دی
نن ژوندون سبا رفتار دی
دنيا پاته مور به ځونه
تورو خاورو کې به يونه
پيمانه ډکه له می راکړه
بزم تود په پياپی کړه
چې يو دم سمه ازاد
ناښاد زړه مې سينه ښاد
ساقي پاڅه وقت د ګل دی
په جوشش کې خم د مل دی
وقت د ميو د وبشو دی
د پيالو د ډکېدو دی

هغه څوک اوس د پېغور دی
چې يې جام تش و نسکور
دی
مستان ګرځئ په باغو کې
مستي کاندي په راغو کې
لاس په لاس دي ياراني کا
يو په بل ناز ونخرې کا
مجنون وصل له ليلا دی
د جمال په تماشا دی
نه غمجن سته نه بېلتون سته
نه مهجور نه ځيګرخون سته
تر تا وګرزمه راسه
ساقي يو ګړی پخلا سه
ما ته جام د ربل ولوررا
چې يو تش سې ډک يې نور
را
اور مې بل د زړه په کور کړه
له هر چا هر څه يې تور کړه
چې بل څه نه وي الفت وي
ټول له مهر و محبت وي
ټول اخلاص وي او صفا وي
تياره ورکه سي رڼا وي
له زړه کم غش او د غل سي
جهان ټول له ګل او مل سي

ساقي ستا مهر مطلوب دی
نو بهار ځکه مرغوب دی
که ستا لور پېرزونه وي
نوبهار به په څه ښه وي؟
خوند به نه کار نګ د ګلو
بې مستيو بې له ملو
نه به بزم په شور تود سي
نه نغمې نه به سرود سي
جام به تش د ارزو سي
ورک به مهر او پېرزو سي
نو ساقي پاڅه بهار دی
بزم تاله اميدوار دی
ياران ناست سترګې څلور
دي
ستا د جام په اميد نور دي
ته هم راسته عنايت کړه
بزم تود د محبت کړه
له سرو ملو څخه ډک جام کړه
د يارانو يې انعام کړه
چې سوړ بزم په مې تود سي
د رندانو غوږو سرود سي
د جهان وېر وغم هېر کا
يو دم ښه په عشرت تېر کا
چې په مخ کې مو بېلتون دی

WWW.SAMSOOR.COM
د پښتو ژبې ادبي سرلاري

# د پښتو ژبې لومړنی عرفاني او تصوفي شاعر

شـیخ متـی: شـیخ متـي د پښـتو ادب عـارف او متقـي شـاعر د غوریـا خېلو څخه و، دده لوی نیکه خرښبون هم د پښـتو ژبې شـاعر او ادیب و.

د شیخ متي کورنۍ ډېر زیات خدمت کړی دی او د ده د کورنۍ شجره پښتون کورنۍ کې خرښبون ته رسېږي، چې د لرغونې دورې یو تکړه شاعر دی.

شیخ متي بن عباس بن محمد بن خلیل بن غوریا بـن کند بـن خرښبون یـې د کـورنۍ شـجره ده، دا مشـهوره کـورنۍ د خرښـبون تـر مـرګ وروسته په ارغسـتان، پښـین او پېښـور کې خپاره شوه، شـیخ متي دوه ورونـه درلـودل، چـې حسـن او عمـران نومېـدل د عمـران مـزار د کوږک پر غره دی، چې هغه غر دده پـه نامـه (د خواجه عمـران غـر) هم بلـل کېـږي او یـوه خـور یـې (بي بي خـالا) نومېـده چـې د دې مـزار پـه پښین کې دی او په کلات کې د ترنګ پر غـاړه د (خـالاکلی) اوس هم موجـود دی چـې د بـي بـي خـالاد یادګـارونو ځینـې دی چـې هلتـه بـه او سېدله.

شیخ متي یو تصوفي او عرفـاني شـاعر دی پـه پښـتو ادب تـاریخ کـې دغه د تصوف نه ډکه شاعري ترده وروسته نورو شاعرانو هم پـه خپلـو

1 - حبیبي، عبدالحی، پښتو ادب تاریخ، دانش پېښور، ۱۳۸۴ل کال، ۵۲۵-۵۷۲ مخونه.

اشعارو کې ځای کړه، خو لومړنی شاعر پښتو ژبې کې چې تصوفي اوعرفاني شاعر دی، هغه شیخ متی دی او د دې نه وړاندې موږ بل داسې کوم شاعر نه لرو چې د هغه شعر له تصوف او عرفان نه ډک مسایل ولري.

شیخ متي په ۲۲۳ل کال کې زېږېدلی او د ۶۰ کالو په عمر د ترنک پر غاړه په ۲۸۸ل کال وفات شوی دی، د ده مزار تر اوسه هم د کندهار شمال ختیځ خواته تقریبا ۵۰ میله لېرې پر یوه غونډۍ واقع دی چې کلات یې بولي او دی په کلات بابا مشهور دی، ده خپل ژوند د ترنګ پر غاړو او د غونډۍ ان په غره د کلات په حدودو کې تېر کړی دی.

د شیخ متي کورنۍ په غوریا خېلو کې خورا مشهوره ده، دوی له پېښور څخه بېرته د کندهار خواوو او د ترنګ غاړو ته ولاړل، دغه کورنۍ په علم او عرفان کې مشهوره وه او پښتنو مؤرخانو یې ذکر ډېر راوړی دی، نعمت الله په مخزن کې، اخوند درویزه په خپله تذکره حیات الافغاني کې او نورو مؤرخانو د دې کورنۍ خلک تر اوسه هم د کندهار د (ناکورک) په کلي کې اوسېږي، په دوی کې شعرا ،مؤرخان او عارفان ډېر تېر شوي دي تر خرښبون وروسته هم ښایي چې دوه قرنه په دې معروفه کورنۍ کې ډېر مشاهیر او شعراء تېر شوي دي، چې د زماني د تاړاکه د دوی اثار تر موږ نه دي رارسېدلي خو دوه قرنه وروسته د پښتو شعر یو خورا ښاغلی او عارف ادیب موږ پېژنو ، چې د مغلولو د تاړاک په مینځ کې دنیا ته راغلی چې شیخ متی نومېږي.

شیخ په خپله کورنۍ کې علم، زهد ، تقوی او ادب په ارث پر ښی وه،دا د پښتو یوه خورا لوی صوفي او عرفاني شاعرو ، ده په غونډان کې یو

کتاب لیکلی و چې نوم یې (الله مینه) او محمد هوتک بن داود د پټې خزانې لیکوال وایي چې دا کتاب په کلات کې دده پر مزار پروت و او اکثره کسانو به لوست، د ده په کتاب کې اکثره عرفاني اشعار او مناجات وو او په داسې ډول وېل شوي وو، چې پر خلکو به یې ډېره اغېزه کوله او زړونه به یې وېلي شول، د شیخ متي مناجات په پښتو ادبیاتو کې د عرفاني شعر بېلګه ده، تر ده وروسته بیا له اوومې پېړۍ نه تر لسمې هجري پېړۍ پورې مونږ په خپلو لاسته راغلیو پښتو متفرقه اثارو کې دغسې د عرفاني فکر لرونکي اثار نه لرو(1)

د دې صوفي او مقتدر شاعر اشعار متاسفانه د نورو لرغونې دورې شاعرانو په ډول زمونږ په لاس کې نه شته خو د پټې خزانې مؤلف یوه عارفانه خوږه منظومه له خپله پلاره اورېدلې وه او په خپل کتاب کې یې را نقل کړې ده:

د شیخ متي دغه شعر په پښتو اشعارو کې خورا ډېر اهمیت لري او دا یوه داسې نمونه ده چې د عرفاني او تصوفي اشعارو ابتداء او بنسټ دهمدې شعر نه پیل کېږي.

او لومړنی شاعر چې شعر یې عرفاني او تصوفي رنګ لري، شیخ متی دی د دې نه مخکې بل کوم داسې شاعر مونږ سره موجود نه دی.

په پارسي اشعارو کې عرفاني رنګ د غزنویانو له عصره ښکاري، د ۷۰۰هـ په حدودو کې پارسي شعر د تصوف او عرفان یوه غوره او غټه ذخیره لري.

داسې ښکاري چې شیخ متی د خپل عصر پر تصوف واقف سړی و او

---

1 - لومړی ټولګی، پښتو ادب لرغونې دوره، یون کلتوري یون، ۱۳۸۹ل کال، ۷ مخ.

دده شعر ثابتوي چې ده عرفان او تصوف کې پاخه افکار درلودل او د پښتو د متصوفو شاعرانو امام ګڼل کېږي، چې تر ده وروسته په دغه فکر او دغه ډول ډېر اشعار د روښانیانو، عبدالقادر خان ختک، رحمان بابا او نورو له خوا وېل شوي دي مګر د شیخ متي اشعار په عرفاني دنیا کې یو مخصوص خوند، رنګ او قیمت لري چې په نورو عرفاني او تصوفي اشعارو کې نه شته، ځکه چې دې مخصوصا په خپل شعر کې جمالي افکار او نظریات څرګندوي او کایناتو ته د ښکلا او جمال په سترګه ګوري.

شیخ متي له هغو لومړیو خلکو څخه دی، چې پښتو شعر ته یې یو فلسفي رنګ ورکړی او د جمالیت ټکی یې ښه ښکاره کړی دی مګر دده فکر تل له مادي خوا څخه معنوي او الهي افکارو ته مېل لري، د تصوف په هکله دا ښکاره خبره ده چې یو ټاکلی نوم یو ټاکلي مفهوم ته اطلاق کېږي، خو د تصوف پر حال باندې د دغسې اصطلاح اطلاق کول لکه په یوه زېږېدلي ماشوم باندې د نوم کېښودل په شان نه وه، لکه دغه نوم ایښودل او دغسې اصطلاح اطلاق کېدل د وخت په اوښتلو سره بدلېږي او مفهوم او مصداق یې هم بدلېږي(1)

دا چې شیخ متی عرفاني او تصوفي شاعر دی را ځو د تصوف د کلمې په اړه یو څه بحث کوو چې د دغې کلمې په اړه څه وېل شوي دي.

که څوک پوښتنه وکړي چې د احادیثو پوهانو ته محدثین او دفقهې

1 - دودیال، محمد بشیر، د تصوف حقیقت او د نقشبندیه طریقې یو بحث، مېوند خپرندویه ټولنه، کابل، ۱۳۸۹ل کال، ۲۹ مخ.


WWW.SAMSOOR.COM

علماؤ ته فقهاء وايي نو د باطني علم او پوهې پوهانو او پيروانو ته ثنګه صوفيان وايي؟
او ولې دوی هم د دې علم يو مقام يا حال ته نه دي منسوب شوي لکه څرنګه چې د زهد او تقوی خاوندانو ته زهاد او متقين او د توکل خوندانو ته متوکلين وايي؟
د دې پوښتنې په ځواب کې بايد وويل شي چې صوفيان يوازې په باطني تزکيې پورې خاص نه دي، څرنګه چې هغوی د باطن پوهه لري په ظاهري علومو لکه حديث، فقه، تفسير او داسې نورو هم ښه پوهېږي او داسې کوم علم نه شته چې دوی له هغې بې برخې وي او پرې ونه پوهېږي که چېرته د دې علم او يا د هغه له کوم حال او مقام پورې اختصاص ورکړی شي دا د دوی هر اړخيز شخصيت لکه څنګه چې ښايي نه شي معرفي کولای.
دا چې څنګه دوی ته صوفيان وايي په دې باره کې د ختيځ او لويديځ پوهان ډول ډول نظريات لري چې د دوی اقوال او نظريات په لاندې ډول وړاندې کوم:
۱: د صوفي د کلمې سره د نسبت (يا) نښتې ده او له (ی) نه پرته (صوف) پاتې کېږي او صوف په عربي ژبه کې وړيو ته وايي دا چې دې خلکو له نرمو ټوکرانو څخه کالي جوړول او تل به يې وړينې جامې په ځان وې له دې کبله د دوی ظاهري بڼه په نظر کې ونيول شوه او خپلو کاليو ته منسوب شول او دا ډول نسبت له دې په خوا هم معمول و لکه د عيسی عليه السلام ملګرو ته (حواريين) وايي او حوارين هغه چاته وايي چې سپينې جامې او سپين کالي اغوندي.
دا نظر لويديځ پوهانو لکه: کليمان هوار، کار داي او ماسينيون هم

تایید کړی دی.
۲: د صوفي او تصوف کلمې له (الصفة ) څخه اخستل شوې ده او دوی هغه صحابه وو ته منسوب دي چې له هجرت څخه وروسته یې په مدینې کې په یوې سر لوڅې صفې کې ژوند کاوه او شپه ورځ د لوی الله تعالی په عبادت بوخت و ، څنګه چې صوفیان هم ټول وخت په عبادت تېروي نو د دوی په مینځ کې څه ناڅه شبهات او یو رنګي موجوده ده
۳: د صوفي کلمه له صف څخه اخستل شوی ده ځرنګه چې صوفیان تل د جمعې په صف کې ولاړ وي یا د الله تعالی په نزد د دوی د لوړ همت له برکته په لومړي صف کې شمېرل کېږي او یا تل د نفس او شیطان په مقابل کې د جګړې صفونه جوړوي ځکه دوی ته صوفیان وایي.
۴: صوفي او تصوف له صفت څخه اخیستل شوی دی دا چې دوی د خپل نفس او ناوړه هیلو سره د مجادلې او مبارزې په نتیجه کې له بدو او ناوړه خویونو څخه پاک شوي نو په ښو ، سپېڅلو اخلاقو او اوصافو یې ځانونه سنبال کړي نو له دې کبله دوی د صفت وړ دي.
۵: د تصوف او صوفي کلمې له (صوفة القفا ) څخه اشتقاق شوې ده او د صوفة القفا مانا دا ده چې د (څټ کوڅې ) ځرنګه چې د څټ کوڅې په لړ شمال ښورېږي او بې واکه وي همداراز د صوفي زړه هم نرم او عواطف یې ډېر وي.
همداراز ځینې خلک داسې عقیده لري چې که چېرته د چا اولاد نه پاتې کېږي او په ورکوټوالي کې مړ کېږي نو کله چې یې کوم ماشوم وزېږېږي د هغه ټول سر وخریي یوازې د شاخواته یوه کوڅې پرېږدي

چې دعمر د اوږدوالي لپاره د نېک پال علامه ګڼل کېږي.
۶: د صوفي کلمه د (سوپ) کلمې ته منسوب ده سوپ یوه زړه اریایي کلمه ده چې اوس هم په پښتو کې ژوندۍ ده چې د سمڅې او غار مانا لري دغه سوپ بیا په پارسي کې په صوف اوښتي او صوفي ځینې جوړ شوی دی، یعنې هغه څوک چې په سمڅو او غارونو کې د ګوښه ګېري په حال کې اوسي.
۷: د صوفي کلمه له صوفة څخه اخستل شوې ده او صوفة د عربانو د جاهلیت په زماني کې د یوه سړي لقب و، دې په ځان کېښودو ده که چېرته یې زوی وزېږېږي د هغه ټول سر به ورو خر وي او یو ازې د ځټ په لورې به یې یوه کوځۍ پرېږدي او هغه به د کعبې په دېوال پورې له همغې کوځۍ و ترې چې هلته کرار د خپلو بتانو عبادت وکړي تصادفي د همغې ښځې زوی وزېږېد او وړکتوب په وخت کې یې د ځټ خواته یو کوځۍ ورته پرېښودله او د کعبې خدمت به یې کاوه تر دې چې ټولو عربانو به ده ته په درنه سترګه کتل، که څه هم نوم یې غوث بن مر و خو هغه ته به یې د ده د ځټ د کوځۍ له کبله صوفة وبلې یعنې کوځۍ داره او دا یې لقب شو کله چې اسلامي دین راغی په لومړیو وختو کې چا د صوفي نوم نه پېژانده خو هغه وخت چې یوې ډلې خلکو خپل ټول وخت په عبادت تېراوه او په اصطلاح دنیا یې پرېښې وه دوی ته هم د همغه سړي چې غوث بن مر یې نوم وه لقب ورکړی شو او په صوفیانو یادېدل.
۸: د صوفي عربي کلمه (**Theosophy**) تیوسوفي یوناني کلمې څخه اخیستل شوی او دا کلمه په یوناني ژبه د الهي حکمت مانا ورکوي.

دا نظر يو ختيځ پېژندونکي مېرکس ښکاره کړی او جورج زيدان يو مصري پوخ ليکوال ورسره منلی دی خو يو بل ختيځ پېژندونکی استاد نولديک دا خبره رده کړې او نه يې مني.

۹: صوفي له (صفوت) څخه اخيستل شوی دی چې د غوره والي مانا ورکوي دا خلک هم د الله تعالی غوره بنده ګان دي.

د صوفي او تصوف د کلمې په هکله د اتېرو نظريې د هغه چا وې چې په صوفيانو باندې د صوفي او دې مسلک باندې د تصوف د کلماتو اطلاق د يوه علت معلول ګڼي او هغه له ځينو نورو کلماتو څخه را ښېله شوې بولي، خو دلته يو بل نظر هم شته چې وايي دا کلمه پرته له دې چې له بلې کلمې اخيستل شوې وي په مستقله توګه د صوفيانو لقب ګرځېدلی دی.

۱۰: دا نوم صوفي دې ډلې صوفيانو کې زيات استعمالېږي وايي فلانی صوفي دی او يوې خاصې ډلې ته صوفيان وايي او هر څوک چې ډېر زيات زيار باسي چې د ين ته ورسېږي، هغه ته متصوف وايي دا نوم په فارسي کې نه شته او اصلي ريښه يې نه ده پېژندل شوې او له کومې بلې کلمې څخه نه ده اخيستل شوی په دې باره کې ډېره ښه نظريه دا ده چې دا کلمه د نورو لقبونو په شان د دې خلکو لپاره لقب ده.

په عامه توګه صوفيان په درې ډلو وېشل کېږي صوفي، متصوف او صوفي نما.

۱: صوفي هغه څوک دی چې له ځان څخه فاني او په الله تعالی باقي وي، ځان ترې هېر وي تل يې الله تعالی په ياد وي او د طبيعت له منګولو خلاص، د حقيقت زړه ته رسېدلی او په واقعيت پوهېدلی

وي.
۲: متصوف: هغه چاته وايي چې د سلوک په لارې روان وي او زيار باسي چې د مقصود سر منزل ته ورسېږي او د صوفي درجې ته لا نه وي رسېدلی.
۳: متصوف يا صوفي نما هغه کسان دي چې د مادي ګټو او تولنيز نفوذ په غرض يې په ظاهر کې د صوفيانو جامې په تن کړي وي او په واقعيت کې د هغوی له باطني پوهې څخه بېخي بې برخې وي.
بغدادي ابو حمزه وايي ((د رښتياني صوفي نښانه دا ده چې له شتمنۍ څخه وروسته خپل شته له لاس ورکړي او له عزت مندۍ وروسته خوار وزار شي او له مشهورتوب وروسته له شهرته ولوېږي او د دروغژن صوفي نښه دا ده چې له بې وزلي وروسته شتمن او بډای شي له خواري نه وروسته عزت مند شي له بې شهرتۍ وروسته په خلکو کې د شهرت خاوند شي.
په اسلامي نړۍ کې دولس فرقې صوفيان را پيدا شوي دي چې هره ډله ځانته خاصه او ځانګړې طريقه لري چې د هغوی له جملې څخه دوه ډلې يې باطلې او نور يې په حقه دي هغه لس ډلې چې د دين له ساحې يې تجاوز نه دی کړی په لاندې ډول دي:
۱: محاسبيان، ۲: قصاريان، ۳: طيفوريان، ۴: جنديان، ۵: نوريان، ۶: سهليان، ۷: حکيمان، ۸: خورازيان، ۹: خفيفيان، ۱۰: سياريان.
او هغه دوه ډلې چې د اسلام دين له ساحې وتلي دي دا دي: حلاجيان او اتحاديان دويم حلوليان چې په حلول عقيده لري.
د التعرف لمذهب التصوف مؤلف رښتياني اسلامي صوفيان داسې ستايي دوی نوراني اجسام او د ځمکې پر سر اسمانيان دي په ظاهر له

خلکو او په باطن له الله سره دي خو له يې پټه او سترګې يې خلاصې دي هم غايب او هم حاضر دی، په زړو جامو کې پټ زمامداران دي له خلکو ګوښه او د فضايلو خاوندان دي څلانده دلايل د خلاص غوږونو او سپېڅلي اسرارو ښتنان دي.

صوفي هغه څوک دی چې په هغه کې د عبوديت معنا پخه شوې وي له ناوړه اخلاقو اوصافو څخه د حق په مرسته پاک شوي وي نو دلته ده چې په ده باندې د حقيقت منازل را ښکته کېږي او د شريعت له احکامو سره ګډېږي هر چا چې دا صفت د حقيقت او شريعت يو ځای کول درلود هغه صوفي دی.

صوفي هغه څوک دی چې له ناوړه هيلو نه پاک شوی او له خلکو څخه ګوښه ټول امور يې خپل الله تعالی ته سپارلي وي او ده ته سپين زر او شګې کوم توپير ونه لري(1)

محمد هوتک بن داود د پټې خزانې مؤلف يوه عرفاني او تصوفي منظومه له خپل پلاره اوربدلې وه دا سې يې را نقل کړې ده:

پر لويو غرو هم په دښتو کې
په لوی سهار په نيمو شپو کې
په غاړه ږغ او په شپېلکو کې
يا د وبرژلو په شپېلو کې
ټول ستا د ياد نارې سورې دي
دا ستا د مينې ننداري دي

1 - غني، پوهنيار سيد غني، تصوف په پښتو ادب کې، ۱۳۸۵ل کال، ننګرهار پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي د دريم ټولګي چپتر.

جنډی زرغون که په بیدیا دی
د بربڼ خواته په خندا دی
ترنک چې خړ دی په ژړا دی
دا ټول اغېز د مینې ستا دی
ټوله ښکلا ده ستا له لاسه
ای د پاسوالو پاسه پاسه !

که لمر روښانه مخ یې سپین دی
بیا د سپوږمیه تندی ورین دی
که غر دی ښکلی پرتمین دی
لکه هینداره مخ د سین دی
ستا د ښکلا دا پلوشه ده
دا یې یو سپکه ننداره ده

دلته لوی غرونه زرغونېږي
د ژوند ورمې پکې چلېږي
بوراوي شاوخوا کرېږي
سترګې لېدو ته یې هېښېږي
لویه خاونده ! ټوله ته یې !
تل د نړۍ په ښکلېده یې

خاونده ! ښکلی ستا جمال دی

WWW.SAMSOOR.COM
د پښتو ژبې ادبي سرلاري

ښکاره يې لور په لور کمال دی
که ورځ که شپه که پېړۍ کال دی
ستاد قدرت کمکی مثال دی
ستا دلورونو يو رڼا ده
دلته چې جوړه تماشاده

زړه مې داستاد مينې کور دی
سوی د عشق په سوځند اور دی
رپي وتاته ستا پر لور دی
بې له دې هيڅ دی ورک يې پلور دی
ستا د جمال په ليدو ښاد دی
که نه وي دغه نور برباد دی

په غرو کې ستا د عشق شپېلکی
دي
د دې نړۍ په عشق سمې دي
که غټ که ووړ که پنډ نری دی
ستا د جمال ځری هر شی دی
چې پر دنيا مې سترګې پرې سوې
ستا د جمال په ننداري سوې

نه هسک نه مځکه وه تورتم و
تياره خپره وه تهول عدم و

نه دا ابلیس نه یې ادم و
ستا د جمال سوچه پرتم و
چې سو ښکاره ښکلې دنیا سوه
د پنځ پر لوري یې رڼا سوه

زه چې څرګند پر دې دنیا سوم
د ښکلي مخ په تماشا سوم
ستا پر جمال باندې شېدا سوم
له خپلې ستې را جلا سوم
په ژړا ژاړم چې بېلتون دی
یمه پردیسي بل مې تون دی

وګړیو ! ولې (متې) ژاړي؟
سوري یې اوري غاړي غاړي
څه غواړي، څه وایي، څه باړي
خپل تون او کور و کلی غواړي
چوني چې بېل سي نیمه خوا سي
تل یې د بڼ په لور ژړا سي !(1)

1 - حبیبي، عبدالحی، د پښتو ادبیاتو تاریخ، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴هـ کال، ۵۳۷-۵۳۹مخونه.

# د پښتو ژبې لومړنی ژباړن

محمد هاشم سرواني: تر جهان پهلوان امیر کروړ وروسته چې کوم شعر موږ ته لاس ته راغلی د هاشم وه د غه شعر په اصل کې د عربي ژبې نه پښتو ته ژباړل شوی وه.
پښتو ادب تاریخ کې لومړنی لاس ته راغلی ژباړل شوی شعر د هاشم دی.دغه ژباړه د عربي ژبې نه پښتو ژبې ته شوې ده.
ابو محمد هاشم ابن زید السرواني البستي د هلمند په سروان کې ۲۲۳ل کال زېږېدلی او په بست کې یې له علماؤ او پېژندل شویو شخصیتونو نه لوستنه وکړ او وروسته ولاړ په عراق کې یې په کلیو کلیو د لویو عالمانو نه زده کړه وکړه او ابن خلاد چې مشهور په ابي العنا سره دی په بغداد کې عمرونه تېر کړل او له هغه یې د عربي ژبې بلاغت او اشعار ولوستل او په ۲۹۴ل کال له عراقه بېرته راغی درې کاله وروسته په بست کې وفات شو.
هاشم په پښتو، پارسي او عربي شعرونه ویل او هغه وخت چې دده استاد ابن خلاد ړوند شو، نو ده به یې خدمت کاوه او د هغه خخه به یې خواږه شعرونه په ادب کې د عربي اوربده، ابو محمد هاشم د خپل استاد شعر یې ترجمه کړی وه.
د پټې خزانې له لیکه ښکاري چې دا سړی د پښتو ژبې لیکوال و او ده په پښتو کې یو کتاب لیکلی و، چې په هغه کې یې د عربو د اشعارو فصاحت او بلاغت بیان کړی و او نوم یې و (د سالو وږمه) متاسفانه چې دا کتاب اوس نه شته او د پښتو په منثور ادب کې چې

د کوم لومړني کتاب نوم موږ ته معلوم دی هم دغه (د سالو وږمه) ده چې (د نسیم ریګستان) معنا لري.
او داسې ښکاري چې دا کتاب به د پښتو له لومړنیو مولفاتو څخه و، د دې عالم او ادیب سړي کوم شعر چې زموږ په لاس کې دی د پټې خزانې په ذریعه له لرغونې پښتانه څخه را نقل شوی دی.
هاشم په درېوو ژبو شاعري کولای شوه( پښتو، عربي او فارسي) خو دده عربي یا فارسي شعر د پټې خزانې مولف نه دی را نقل کړی که یې فارسي شعر زموږ په لاس کې وای نو به یقینا د دې ژبې له اولو شاعرانو څخه و.
د ابو محمد هاشم ژباړل شوی شعر اووه بیته چې زموږ لاسته راغلي دي، په درېیمې هجري پېړۍ کې د پښتو ادب ډول، صبغه او رنګ راښیي که موږ د عربي ادب تاریخي کتابونو ته رجوع وکړو، نو هلته د ابن خلاد ذکر هرومرو ګورو.
دا سړی د عربو مشهور ادیب او ظریف سړی و، چې نوم یې محمد بن القاسم یا ابن خلاد بن یاسر بن سلیمان او نېکه یې ابوعبدالله و، دی له لویو لویو استادانو څخه روایت کوي او ډېر مشاهیر لکه سولی ابن نجیح او احمد بن کامل د ده ادبي شاګردان دي.
په ۱۹۱هـ ق کال په اهواز کې وزېږېد او پر (۲۸۲-یا ۲۸۳) په بغداد کې مړ شوی دی، د عربي ډېر پاخه اشعار لري او ډېر حکامي اشعار او مضامین له ده را نقلېږي(1)
ابن خلاد چې یو ظریف سړی وو په یو شعر یې درهم ستایلي دي او

1 - لومړی ټولګی، د پښتو ادب لرغوني دوره، یون کلتوري یون، ۱۳۸۹ل کال ۶۰ مخ.

ابو محمد هاشم هغه شعر داسې په پښتو را اړولی دی:

## شعر

ژبه هم ښه وینا کاندي چې یې وینه
د خاوند په لاس کې زر او درهمونه
ژبور ورلـه ورځـي وینـا یـې اروي
د درهم خاوندان تل وي په ویاړونه
کـه درهـم یـې ځینـې ورک سـو سـي
نتلـــــــــــــــــــــــــــی
پـر نـړۍ یـې وي پـه خړو پېژندونـه
کـه بډای سـونې وبـولي خلق وایـي
دا وینـا ده ربښـتیاینه لـه ربښـتو نـه
کـه بې وزلـی ووایـي ربښـتیا خبـره
نور ووایي دا خو سونی دی تېرونـه
هو درهم ښندي هر چا لـه لویه برخه
د درهـم د خاونـد هـر ځـای پرتمونـه
درهم ژبـه ده کـه څوک ژبـور کېږي
ده وسـلـه کـه څـوک پـه کانـدي
قتالونــــــــــــــــــــــــــه[1]

1 -حبیبـي، عبـدالحی، د پښـتو ادبیـاتو تـاریخ، دانـش خپرندویـه ټولنـه، پېښـور، ۱۳۸۴ل کال، ۴۵۳-۴۵۴مخونه.

## د پښتو ژبې لومړنی ستاینه لیکونکی

ښکارندوی غوري: په پښتو ادب کې لومړنۍ لاسته راغلې قصیده د شیخ اسعد سوري ده او دویمه لاسته راغلې قصیده د ښکارندوی غوري ده چې د سلطان غیاث الدین غوري او سلطان شهاب الدین غوري په ستاینه کې یې وېلې ده او د دې نه مخکې بل کوم داسې شاعر نه شته چې شعر یې ستاینې په ډول وېل شوي وي.

د پښتو له پخوانیو قصیده سرایانو څخه ښکارندوی مقتدر او د غښتلي قرعې خاوند دی، پلار یې احمد نومېده د غور د فیروزکوه کوتوال و، د ښکارندوی کورنۍ د خپل عصر عزتمن او مقتدر خلک وو او د غور د پاچایانو په دربار کې ورته په درنده سترګه کتل کېده، ښکارندوی به کله په غور کې ژوند کاوه او کله کله به په غزني او بست کې هم اوسېده.

د ښکارندوی غوري د ژوند حال محمد هوتک بن داود په خپل کتاب پټې خزانې کې ځای کړی دی او ماخذ یې د شیخ کټه لرغوني پښتانه وه او شیخ کټه د محمد بن علي د تاریخ سوري نه را اخیستی دی.

ښکارندوی د خپل عصر عالم او شاعر پښتون و او د سلطان شهاب الدین محمد سام شنسباني په حضور کې ډېر عزت او اعتبار درلوده، دی د سلطان شهاب الدین او سلطان غیاث الدین غوري په ستاینه کې ډېرې قصیدې وېلې دي او دغور د پاچایانو د دربار پښتون شاعر و، داسې ښکاري چې ښکارندوی به تل د غور پاچایان په پښتو قصیدو ستایل او محمد بن علي د تاریخ سوري لیکوال لیکلي دي چې ما په بست کې د ښکارندوی د اشعارو او بوللو یو

غټ کتاب ولېده.

دا د پښتو ژبې قدیم قصیده ویونکی شاعر به تل د غور له سلاطینو سره په جګړو او جنګي سفرونو کې ملګری و او هم د دېوان خاوند دی چې د ده له دېوانه د تاریخ سوري لیکوال یوه پښتو قصیده نقل کړې ده او دغه بوللله له تاریخ سوري څخه شیخ کته په خپل لرغوني پښتانه کې ځای کړه او له لرغوني پښتانه څخه محمد هوتک په پټه خزانه کې وساتله، دا قصیده چې اوس زموږ په لاس کې د ه ښکارندوی محمد سام په ستاینه کې ویلې ده او د هغه سلطان د هند یو سفر تصویر کوي چې څنګه د سلطان لښکر هند ته ځي او څنګه پر اټک تېرېږي.

ښکارندوی د پخو قصیده ویونکو په ډول قصیده یې یو خوندور د تشبیب برخه لري، د تشبیب په برخه کې د بهار مناظر د غرو او درو دلچسپ او ښکلی تصاویر په دغه تشبیب کې ترسیم کوي، وروسته نو د سلطان معزالدین (شهاب الدین) ستاینې ته ګرېز کوي او په ډېر استادۍ او اقتدار دده د لښکرو یرغلونه تصویر کوي او دا قصیده کټ مټ د غزني د دربار د پخو شاعرانو قصیدو ته ورته ده.

د ښکارندوی دا قصیده د پښتو ادب یو شهکاره قصیده ده او دشاعر مهارت او استادي پکې د ورایه ښکاري، که څه هم ښکارندوی د ښار او دربار سړی و، خو کلام یې د غرو ژبې کلکوالی او استحکام لري او ډېر د پښتو نادر نکات او مواد پکې شته[1]

1 - حبیبي، عبدالحی، د پښتو ادبیاتو تاریخ، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴هـ کال، ۴۹۸-۴۹۹ مخونه.

د بوللې (قصيدې )پېژندنه: بولله د بول له مصدره څخه دی او د وېلو په مانا راځي.
پوهاند حبيبي صيب په خپل اثر (قصيده څنګه او چېرې پيدا شوه؟) کې ليکي: ((قصيده د قصد له مصدر څخه جوړه شوې چې مانا يې اتصال، استقامت سموالی برابرتيا او سوچه توب دی[1])
يا قصيده په لغت کې قصد او ارادې ته وايي او په ادبي اصطلاح کې هغه شعري فورم يا کالب ته وايي چې تر يوې مطلع لاندې وېل کېږي د بيتونو شمېرې د ۱۲ څخه زيات ان تر ۲۰۰ بيتونو پورې رسېږي[2])
قصيده د مانا له مخې دوه برخه لري: ۱: تمهيديه قصيده، ۲: خطابيه قصيده.
۱: تمهيديه قصيده: دا هغه قصيدې ته وېل کېږي چې د مانا له مخې لاندې پنځه برخې ولري يا د يو چا په ستاينه کې قصيده وېل شوې وي هغه ته تمهيديه قصيده وايي:
۱: تشبيب يا نسيب: تشبيب په لغت کې د مينې خبرو کولو ته وايي او په اصطلاح کې د قصيدې لومړۍ برخه ده چې زياتره شاعر په کې د محبوب ستاينه، د طبيعت منظر يا داسې نور د خوښۍ يا غم بيتونه راوړي، د تشبيب د بيتونو شمېر د شاعر پورې اړه لري.
۲: ګرېز: دا د قصيدې هغه برخه ده چې شاعر له تشبيب څخه خپلې

1 - ارزومند، محبوب شاه، د پښتو نظم کلاسيک ژانرونه، ګودر خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۹ل کال، ۲۲ مخ.
2 - هاشمي، سيد محی الدين، ادب پوهنه، ، دانش خپرندويه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۱ل کال، ۵۷ مخ.

اصلي موضوع ته پرې راځي دا حصه يو يا څو بيته وي په دې برخه کې شاعر تېښته(ګرېز) کوي د تشبيب برخې څخه اصلي مطلب ته پرې راځي.

۳: اصلي مطلب: په دغه برخه کې شاعر د کوم پاچا(يا هر څوک چې يې مطلب وي) ستاينه کوي.

۴: حسن طلب: دا د قصيدې هغه برخه ده چې شاعر په ډېره هوښياري له پاچا يا ممدوح څخه د پيسو يا هغه څه چې د لاسته راوړلو هيله يې لري غواړي، چې دغه برخه په پښتو قصيدو کې نه شته او د فارسي په قصيدو کې يې پرېمانه موندلای شو.

۵: دعاييه: دا د قصيدې هغه برخه ده چې شاعر دخپل ممدوح لپاره دعا کوي او قصيدې پرې پای ته رسېږي.

۲: خطابيه قصيده: هغه قصيدې ته ويل کېږي چې د مانا له مخې پورته پنځه برخې ونه لري او راسا په اصلي مطلب يې شروع کړې وي، نو د ښکارندوی غوري قصيده يوه تمهيديه قصيده ده چې د مانا له مخې پنځه برخې (تشبيب، ګرېز، اصلي مطلب، حسن طلب او دعاييه) لري.

د تشبيب برخه د ښکارندوی غوري په قصيده کې په لومړني بيت پيل او په ۱۸ بيت پای ته رسېږي، چې مجموعا ۱۸ بيته يې د تشبيب برخه ده:

## د پېل بيتونه

د پسرلي ښکولونکي بيا کړه
سنګارونه
بيا يې ولونل په غرونو کې لالونه

## د پای بیتونه

په غورځنګ غورځنګ له خولې ځګونه
باســـــــــــــــــــــــــي
لکه شنې هاتي شنې کاندې سيندونه

د ګرېز برخه د ښکارندوی غوري په قصیده کې په ۱۹ بيت پېلېږي
دغه برخه په قصیده کې يويا څو بيتونه وي:

نه به چونې په ستايه د جنډو مورې
ســـــــــــــــــــــي
نه به مورې شم د سلطان په صفتونه
د شنسب د کهاله ختلی لمر دی
د پسرلي په دود ودان له ده رغونه

اصلي مطلب برخه د ښکارندوی
غوري په قصیده کې په ۲۴ بيت
پېلېـــــــــــــــــــــږي
د اسلام د دين شهاب د نړۍ لمر دی
تور ستهان يې کړ رڼا په جهادونه

حسن مطلب برخه د ښکارندوی غوري په قصیده کې نه شته
د عاييه برخه د ښکارندوی غوري په قصیده کې په لاندې
بيتونو کې ليدل کېږي:

په رڼا اوسې ته تل د دين شهابه!
نوم دې تل وي پر دريغ په نمزد کونه
څورا نه شي ستا په توره د هند لوريه

ځو چې نېست کړي له نړيه بود تونه(1)

## د ستاينې بو لله

د پسرلي ښکلونکي بيا کړه سينګارونه
بيا يې ولونل په غرونو کې لالونه
مځکه شنه لاښونه شنه لمنې شنې سوې
طليسان زمردي واغوسته غرونه
د نيسان مشاطې لاس د مچېدو دی
مرغلرو باندې وښکلل ښونه
د غټولو جندی خاندي وربدي ته
زرغونو ښو کې ناڅې زلمي جونه
لکه ناوې چې سورټيک په تندي وکا
هسې وګاڼل غټولو سره پسولونه
مرغلرې چې اوره وخونو ليه
په ځلا يې سوه رانه خپاره دښتونه
زرغونو مځکو کې ځل کا _ لکه ستوريه
چې پر هسک باندې ځلېږي سپين ګلونه
سپينې واورې ويلېده کاندې بهيږي
لکه اوښې د مين پر ګريوانونه
هر پلو رڼې والې بهاندې خاندې
له خوښيه سر وهي له سينګرونه

1 - همکار، محمد ابراهيم، قافيې فن، دانش خپرندويه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۲ل کال، ۵۳-۵۴ مخونه.

هر پلو د ګلو وږم دی لونلی
ته وا راغله له ختنه کاروانونه
د مسیح په پو به مړو ژوندون بیاموند
پسرلی مګر مسیح سو په پو کړونه
له مړو خاورو یې اغلې ګل را ویوست
وچ بیدیا او غریې کړله جنتونه
سړی جا جې چې را مشت کړ را مشتګرو
ګهیځ چونې چې په بڼ وکا ږغونه
په بربڼ چې ږغ د جونو نغوږېده سی
ته وا چندي سره پیودي اشلکونه
د زلما تاپی راغلی دی پر جنه یو
لکه پېغله غوتۍ کاندې مکېزونه
د پو پلو مخ سور کړی پسرلی دی
یو د بل په غاړه اچوي لاسونه
د هیندارو په څېر غرونه سپین وړنګین
دي
چې پر واورو باندې ځل وکا لمرونه
په غور ځنګ غور ځنګ له خولې ځګونه
باسي
لکه شڼ هاتي شڼا کاندې سیندونه
نه به چونې په ستایه د ګلو موړ سي
نه به موړ سم د سلطان په صفتونه
د شنسب د کهاله ختلی لمر دی

د پسرلي په دود ودان له ده رغونه
د ښندو اورو يې درست اېواد زرغون کړ
له قصدار تر د بېله يې يونونه
په زابل چې د بري پر نيلي سپور سي
په لاهور يې د مېړانې ګزارونه
نه يې ځوک مخ ته دري د مير ځمنو
نه يې توري ته ټينګېږي کلک ډالونه
د اسلام د دين شهاب د نړۍ لمر دی
تورستهان يې کړ رڼا په جهادونه
هره پلا چې دی پر هندو سند يرغل کا
رڼوي توره نړۍ په شهابونه
په پسرلي چې يې تېرون پر اټک وکا
غاړه غاړه يې تري سولله زړونه
نه به ده غوندې روڼ ستوری په هسک
ځلي
که څه پورته سي له غوره ډېر مېړونه
نه به راولي جګړن د سيند په لوري
نه به بري ځوک د هند خپاره ښهرونه
نه به ځوک زلمی د غور سره را غونډ کا
د داور توري به چېري کا ځلونه
يو خاوند شهاب الدين دی چې يې وکا
په هر لوري هر اېواد ته يرغلونه
په جوپو جوپو جګړن يې هند ته يون کا

چې د غـور بـادار همـت وکـا زغلونـه
نن په سیند باندې تېرېږي يرغـل كانـدي
پـه پـرتم يـې زمـري رېـږدي پـه ځنګلونـه
ځپـان سـيند يـې هـم لـه ډاره ايلايـي کـا
پـر اوږو وړي د غوريـانو ښـه اېړونـه
پـه هـر کـال اتـک د ده ښـه راغلـی کانـدي
غـوړوي پـه ځنډو خپـل پاسـته سـالونه
پښتونخوا ښکلي زلمي چې زغلي هند تـه
نو اغليـه پېغلـې کانـدې اتڼونـه
زرغـونې ختـې اغوسـتې وې دې غرونـو
بـت بېـديا هـم پسـوللی وي ځانونـه
هـر ګهـيځ چې لمـر څرکېـږي لـه خاتيځـه
څـو چې يـون کـا د لوید يځـه پـه ځنډونـه
کـه برېځـر وي کـه غرمـه وي کـه برمـل وي
کـه لـر مـل کـه لمـر لوېـده کـه تـر ملونـه
د شـهاب جګـړن پـه نـه کښـينی لـه زغلو
نـه بـه پرېـږدي دا زلمـي خپـل بهيرونـه
زمـري کلـه کـاږي ځـان لـه يرغلګريـو
څـو يـې نـه کـا مـات متونـه ورمېږونـه
يـا بـه جګ كـاد بريـو رېـې پـه هند کـې
يـا بـه پرېـږدي هـم پـه دې چاره سـرونه
يـا بـه وران کـا بودتونونـه د بمبنـو
يـا بـه سـره کانـدې پـه وينـو اېوادونـه

WWW.SAMSOOR.COM
د پښتو ژبې ادبي سرلاري

پـه رڼـا اوسـې تـه تـل د دیـن شـهابه !
نـوم دې تـل وه پـر دریـځ پـه نمـزد کونـه
ځـو رانـه شـي سـتا پـه تـوره د هند لوریـه
ځـو چـې نسـت کـړې لـه نړیـه بودتونونـه
ستا پـه زېرمـه دې خاونـده لوی ښـتن دی
مـوږ خـو سـتا پـه مرسـته یـو نـه ځـو چـې
یونـــــــــــــــــــــــــه(1)

# د پښتو ژبې لومړنی تاریخ لیکونکی

محمد بن علي البستي: په پښتو ادبیاتو کې محمد بن علي لومړنی تاریخ لیکونکی دی، دې نه مخکې بل کوم داسې لیکوال چې کتاب یې تاریخي موضوعات ولري نه لرو، د دې لیکوال د کتاب نوم (تاریخ سوري ) و چې په ۶۰۰هـ کال کې یې لیکلی دی.
د اپښتون مؤرخ له هغو نومورکو لیکوالانو څخه دی، چې د مغولو د تاړاک په پېل کې به ژوندی و، د ده له احوالـه نور هېڅ معلومات نه لرو، پرته له دې چې دی د هلمند د غاړو یو سړی واو د تاریخي بست اوسېدونکی و، د پلار نوم یې علي او دې یو کتاب لیکلی و، چې د سوریانو پاچایانو احوال یې پکې ځای پر ځای کړي و، د غه تاریخي کتاب تاریخ سوري نومېده او اوس دغه کتاب موږ سره نه شته او

1 - حبیبي، عبدالحی، پښتو ادب تاریخ، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۴ل کال، ۵۰۰ مخ.

ورک دی، د پټې خزانې مؤلف محمد هوتک بن داود یې د شیخ کټه د لرغونې پښتانه په حواله نوم اخلي او دا سې ښکاري چې دا کتاب د شیخ کټه په لاس کې و او په لرغونې پښتانه کې ډېر مواد له دغه کتابه را نقل کړي و، د تاریخ سوري یو څه محتویات موږ ته په دوه واسطو لاسته راغلي دي، شیخ کټه په لرغونې پښتانه کې رانقل کړي دي او له لرغونې پښتانه څخه د پټې خزانې لیکوال محمد هوتک په خپل کتاب کې را اخیستي دي او هغه مواد دا دي:

۱: د امیر کروړ سوري احوال او دده ویاړنه.

۲: د شیخ اسعد سوري احوال او دده قصیده.

۳: د ښکارندوی غوري احوال او دده قصیده.

له دغو پورته معلوماتو څخه ښکاري چې محمد بن علي په تاریخ او د پښتو په ادب کې ښه او ثقه معلومات درلوده او لکه د لرغونې پښتانه چې له ده څخه روایت کوي دی یو ښه ادیب او پلټونکی سړی و او په بست کې یې د ښکارندوی د قصایدو یو غټ دېوان موندلی او له هغه څخه یې د ده یوه غوره قصیده په خپل کتاب تاریخ سوري کې را نقل کړې ده.

دا سې ښکاري چې محمد بن علي د تاریخ سوري مشهور کتاب شیخ کټه د غور په بالشتان کې موندلی و او تر ۷۵۰هـ پورې دغه کتاب موجود و، ځکه چې همدغه کتاب د شیخ کټه له ماخذونو څخه دی.

تاریخ سوري یو په پښتو لیکل شوی تاریخ و او د سوریانو د کورنۍ احوال یې له قدیمه بیاناوه او یوازې د حربي او سیاسي پښتو تاریخ نه و بلکې ادبي رنګ یې هم درلوده، بستي ډېر باخبره او سترګور مؤرخ و ځکه چې ده د پاچایانو احوال حربي او سیاسي حالات را نقل

کړي او هم يې د دوی د کلام نمونې راوړې وې او هغه قصيدې يې په خپل کتاب کې ساتلې وې چې د غوري پاچايانو په دربارو کې په پښتو وېل کېدلې، له دې څخه ښکاري چې تاريخ سوري د سوريانو او غوريانو د عصر يو ادبي، سياسي او حربي تاريخ و که څه هم د دغه تاريخ نمونه اوس نه شه مګر د پټې خزانې له يادونو څخه يې اهميت ښه ښکاري او دا د پښتو ژبې يو خورا قيمتي کتاب و[1]

1 - حبيبي، عبدالحی، د پښتو ادبياتو تاريخ، پېښور: دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۴هـ کال، ۲۱۲ مخ.

# د پښتو ژبې لومړنی مسجع نثر لیکونکی

بایزید انصاري: بایزید انصاري چې په پیر روښان مشهور دي یو ستر پښتون، سیاست مدار، فلسفي، مفکر او ادیب و چې د پښتو په سیاسي او ادبي تاریخي بهیر کې د روښاني تحریک سرلاری و.

عبدالاکبر اکبر په خپل کتاب (روښانیان، د مغلو تاریکیان) کې لیکلي دي: بایزید روښان په اصل او نسب انصاري دی بایزید د قاضي عبدالله زوی چې د نسب سلسله یې په لاندې توګه ده بایزید بن عبدالله بن شیخ محمد بن سراج الدین بن چراغ الدین بن مولوي ابراهیم بن حمزه بن محمود بن داود بن شیخ شمس الدین بن خلیل بن لقمان بن شیخ خداداد بن شیخ منصور بن شیخ احمد بن خواجه ایوب انصاري چې اخرنۍ نبکه یې ایوب انصاري رضي الله عنه دی.

دا چې بایزید انصاري ولې په بایزید روښان یادېږي یوه شپه په چراغ کې تېل تمام شول او چراغ تاریک شو نږدې و چې چراغ مړ شي بایزید خپل مرید ته ووېل تېل نه شته نو اوبه په چراغ کې واچوه هغه مرید د پیر په حکم څراغ کې اوبه واچولې او دده په کرامت چراغ په اوبو روښانه شو له دغې شپې څخه مریدانو دی پیرروښان وباله.

د دې کرامت سره د بایزید د پیرۍ نوم خپور شو، د مریدانو حلقه یې وغزېده، د ده په تبلیغ او دعوت د ناقصو پیرانو په زړه کې د حسد اور بل شو او هیڅ بې هیڅه یې دده مخالفت شروع کړ، اخوند درویزه بابا پیر روښان ته پیر تاریک وېل او د پیر روښان ډېر کلک مخالف وو.

بایزید انصاري یو پوه عالم او نظر باز سړی و په مناظر او مباحثو کې چا پرې کولای نه شوای، د ده عقلي دلیلونه به دومره پاخه او وزن داره وه چې چا په ملامته کولای نه شوای.
ده د پښتنو د خپلواکۍ، اتفاق او اتحاد سپېڅلي جذبه لرله ده د مغولي بادشاهانو د غلامۍ نه د پښتنو د خلاصون لپاره مغلو سره ډېرې معرکې او جنګونه کړي دي او په اکثرو نښتو او جنګونو کې یې بری موندلای دی ولې د تورراغه په مقام د کابل صوبه دار محسن خان سره په شوي جنګ یې ماتې وخوړه په دغه دوران کې د سختې ګرمۍ له کبله جل واخستو او په ګلپانې کې په حق ورسېده، د بایزید د وفات په نېټه او د قبر د ځای په لړ کې هم اختلاف دی.
حالنامه لیکي: بایزید روښان په ۹۸۰ هـ کال کې وفات شوی دی او په بټه پور نومې ځای کې خاوروته سپارل شوی دی، مګر انصاري نومي کتاب کې دده قبر د بنو په (هورک یا ریدک) کې ښودلی دی، په بل روایت کې د بایزید وفات په ۹۹۲ هـ کې ښودل شوی دی.
د پښتو نثر لومړنی کتاب د پیر روښان و او په پښتو ادب تاریخ کې د ډېر اهمیت وړ کتاب دی، د روښان صیب خیرالبیان د پښتو د نثر هغه مهم کتاب دی چې په باقاعده توګه د پښتو د نثر پیل او د پښتو د نثر لومړنۍ لاسته را غلی کتاب دی.
بایزید انصاري د جدا مکتب او فکر خاوند وه چې ډېرو نثر لیکونکو او شاعرانو یې پیروي کړې ده او دغه ستر علمي او ادبي مکتب په روښاني مکتب ونومول شو، د بایزید انصاري په شان د یو عالم فاضل شخصت علمي سطح معلومول ډېره ګرانه خبره ده همدغه ډول چې موږ د بایزید انصاري د تصنیفاتو مذهبي او دیني افکارو

په اړه فکر کوو دې نتیجې ته رسېږو چې بایزید انصاري د خپل وخت مروجه علوم او مشهورې ژبې زده کړې وې، په عربي، فارسي، پښتو او هندي ژبو یې پوره لیک او لوست کولای شو.
د قرانکریم او احادیثو ښه ژوره مطالعه یې کړې وه او د اسلامي علومو یو ستر عالم و، د بایزید انصاري د علمي حیثیت اندازه د دې نه معلومېږي چې دی د خپل علم،دانش، پوهې او د عقلي دلیلونو په بنیاد د خپل وخت د سید علي ترمذي او اخوند درویزه غوندې عالمانو سره ډېرې مناظرې او مباحثې کړې وې ولې چېرته هم چا پر کړی نه وو.
د تصوف فلسفیانه خیالاتو او د سلوک او معرفت پټو اسرارو څخه یې نورهم د علمیت ژورتیا څرګند ېږي.
د خیرالبیان په مسجع او مقفي نثر کې یې سوچه پښتو لغاتو او د عربي او فارسي اصطلاحاتو استعمال هم د علم او پوهې غټ دلیل دی دغه ډول د لیک دود په لړ کې هم دده فکر وعلم د ستاینې وړ دی ځکه چې د پښتو ژبې د لیک دود د مخصوصو اصواتو هغه حرفونه چې د عربي او فارسي حروفو او اصواتو څخه نه شي زده کېدای بایزید په یوه ځانګړې رساله کې ترتیب او توضیح کړي او هغه ته یې شکلونه وټاکل، بایزید د خپل علم په واسطه پښتو ژبه په لغاتو او اصطلاحي توګه درنه کړه دغه هر څه د هغه د بې مثاله علمي حیثیت نه هېرېدونکي ثبوتونه دي.
بایزید انصاري د پښتو ژبې او ادب په وده کې لوی لاس لرلی ځکه چې دده د کار شروع د نورو لیکوالانو لپاره لار هواره کړه او دده په لاره او پیروۍ کې ډېرو لیکوالانو د پښتو ژبې جولۍ د ګڼورو کتابونو نه ډکه


WWW.SAMSOOR.COM

کړې ده.
په مختصرو ټکو کې به دا وو ایو چې د پښتو ژبې د ارتقاء د دویم دور د کاروان سر لاری بایزید روښان دی.
روښان د خپل وخت یو غښتلی صوفي وو او په تصوف کې د وحدت الوجود نظریې خاوند و
بایزید انصاري د خپل ریاضت او عبادت په واسطه د سکونت او معرفت مقام موندلی دی او د تصوف ټول منازل یې طی کړې وه، دې د تصوف د اتو مقاماتو ذکر کړي دي، چې په هغو کې ځلور مقامات د شریعت، طریقت، حقیقت او معرفت د بایزید نه مخکې نورو صوفیانو بیان کړي دي او باقي ځلور مقامات د بایزید روښان خود ساخته دي،د روښان هغه اته مقامات په لاندې ډول دي:
۱: شریعت مقام: په دې مقام کې پنځه بناوې په پابندی، د پېغمبرانو په نقش قدم تګ، د غیبت او درواغو نه د ځان ژغورل، ریښتیا وېل او خپله خوله په کنترول کې ساتل دغه ټول اعمال باید عمل کړي.
۲: طریقت مقام: په دې مقام کې د پېغمبرانو قول او فعل، فرښتو په رنګ د اوصافو پیدا کول، په تزکیه قلبي او عباداتو کې مشغولېدل، د فرایضو سره سره د نوافلو خیال ساتل، د پېر اطاعت او سخاوت باید عملي کړي.
۳: د حقیقت مقام: د دې مقام په خصوصیاتو کې ذکر خفي، د الهي ذکر کول، د باطن تزکیه، صفایي او یقین محکم د اوصافو ذکر شوی دی.
۴: معرفت مقام: دا د انبیاؤ د راز مقام دی په دې مقام کې د زړه په سترګو حق کتل کېږي او په هر څه کې د ذات الهي جلوې لټول کېږي او

د نفساني بدیو، حرص، شهوت او طمع نه پکې د ډډې کولو خاص تلقین کېږي.

۵: قربت مقام: دا او دې پسې بیانېدونکي مقامات د معرفت الهي څانګې دي چې د معرفت او ربوبیت تفصیلات پکې بیانېږي په دې مرحله کې یو اځې د حق اواز اورېدل کېږي، د مخلوقاتو هم ډوله اوازونه د الله تعالی تسبیحات ښکاري او دا د قربت مقام امر هم دی.

۶: وصلت مقام: په دې مقام کې صوفي او سالک د بدني اوصافو څخه بې نیازه شي په هر څه کې و رته د حق تعالی ذات په نظر رائي، دی په ذات تعالی کې محوه او ورک شي.

۷: وحدت مقام: په دې مقام کې د بشریت او صاف ختم شي هستې فنا شي او د ربوبیت په اوصافو صوفي ژوندی ګڼلی شي ځکه چې دلته د خپلې هستۍ احساس هم شرک خفي بللی شي.

۸: سکونت مقام: په دې مقام کې د سالک روح قرار مومي، د بدن هر اندام او هره اعضاء یې حرام نه خوښوي او د الله نه بغېر ورته د هیڅ څېز احساس نه وي او چې خبرې هم څه کوي د هغې اثر په روح نه کېږي او د فنافی الله درجه مومي.

بایزید روښان د تصوف د دې اخري مقام په سبب ځان ته مسکین وېل، د ده په وینا د سکونت د مقام درلودونکي ته مسکین وېل کېږي(1)

خیرالبیان د پښتو ادبیاتو په تاریخ کې لومړنی مسجع نثري کتاب دی او

---

1 - ډاکټر محمد عرفان، خټک، د پښتو نثر ورومبۍ نخې، یونیورسټي بک ایجنسي، پېښور، ۱۳۹۰ل کال، ۵۹-۲۴مخونه.

د بايزيد په تصنيفاتو کې ډېر مشهور کتاب دی، بايزيد د خپل تحرير ابتداء د دې کتاب نه کړې وه او دهغه د مخالفت په اسبابو کې يو سبب د دې کتاب تاليف وو.

د دې لوی مخالف اخوند درويزه صاحب وه، هغه د بايزيد د بل يو تصنيف شوي کتاب ذکر نه کوي خو د خيرالبيان ذکر ډېر په شد و مد کوي او هم د دې کتاب په سبب يې د بد نامولو کوښښ کوي، خيرالبيان په مسجع نثر لیکل شوی نثري کتاب وه[1]

د مسجع نثر پېژندنه:د دورونو، جملو يا فقرو په پای کې د غږونو يو والي يا ورته والي ريميکي هم اهنګي ده چې په نظم کې يې قافيه او په نثر کې يې سجع بولي، ريميکي هم اهنګي نه د نظم اساسي رکن دی او نه د نثر له ښېګڼو څخه حسابېږي، هغه نثر چې د سجع التزام پکې وي د مسجع نثر په نوم يادېږي[2]

خيرالبيان کې د روښانيانو عقيدې او عبادتونه په څلورو ژبو څېړل شوي دي په خيرالبيان کې پښتو، فارسي، عربي او هندي برخې شته او بايزيد انصاري په يادو څلورو ژبو پوهېده، په ما وراء النهر، افغانستان او پارس باندې د مغلو دورې د پارسي ليکونکو د تکلفه ډکه او مصنوعي نثر پېښې پيل کړي او تر ۹۰۰ هـ ق وروسته پېر روښان خپل مشهور اثر خيرالبيان په دغه بې خونده او زېږه سبک

1 - پروفيسور، حنيف خليل، د پښتو زوړ نثر، يونورسټي خپرندويه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۲ل کال، ۱۳۳مخ.

2 - غني، پوهنيار سيد غني، د خيرالبيان منظوم متون، د ننګرهار پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي د څلورم ټولګي چپتر.

## کې وليکه[1]

1 - غنـي، پوهنيـار سـيد غنـي، د منځنـۍ دورې نثـري متـون، د خيرالبيـان مـتن،د ننګرهـار پوهنتون د ښووېن اوروزنې پوهنځي د دويم ټولګي چپتر. ۱۳۸۵ل کال.

# د پښتو ژبې لومړني نثر ليکونکی

سليمان ماكو: لومړنی لاس ته راغلی د نثر نمونه په پښتو ادب تاريخ کې د سليمان ماكو وه چې په ۶۱۲هـ کال کې يې ليکلې و.
د پخوانيو ارياياڼو او اکثرو نورو اقوامو، زاړه ادبي اثار منظوم و او منثور اثار يې ډېر لږ پاتې دي.
وېدا او اوستا دواړه منظوم وو، د سانسكريټ د ژبې زياتره کتابونه منظوم دي، نو له دغه جهته د اريايي اقوامو د نظم تاريخ تر نثر د مخه دې په دې کې هيڅ شک نه شته چې د ژبې اساس پر نثر اېښودل کېږي مګر څکه چې بشر خپل پخواني ادبي اثار په حافظه کې ساتل د ليک تحريري فن لا نه و ايجاد شوی، نو د حافظې د ساتلو لپاره نظم تر نثر اسانه و او هر کله به د اريايي اقوامو شاعرانو خپل ديني او اجتماعي مطالب نظم کول او حماسي شاعرانو به خپل جنګي او حماسي اشعار په منظوم ډول ښودل، وېدا هم په منظوم ډول ليکل شوي و او ستا هم د زردشت او دده د اتباعو سندرې دي، د زاړه يونان ايليا د او اوډېسه هم د هومر حماسي سرودونه دي.
د پښتو ژبې په ادب تاريخ کې هم موږ ته تر اسلام را وروسته، لومړی منظوم اثار لاسته راغلي دي او په لرغوني دورې کې تر ۲۰۰هـ د مخه کوم منثور اثر درک نه لري فقط د هاشم سرواني د سالو وږمه يو کتاب په نامه معلوم دی، مګر منظوم اشعار لکه چې تاسې ولوستل، خورا ډېر دي چې کله پخواني اريايي متون سينه په سينه را نقل شوي او وروسته په کتاب کې ځای پر ځای شوي دي.

او تر موږ پورې رارسېدلي دي، ځکه چې پښتو ژبه د قديمو منظوماتو په شهادت موجوده وه نو طبعاً به يې نثر هم درلود مګر ښايي چې د ليک او تحرير د نه ودې په سبب نثر نه وي ضبط شوی او که څه هم و هغه به د زمانې څپو د منځه وړی وي، په دغه علت موږ په لرغونې دورې کې تر ۷۰۰هـ د مخه د پښتو نثر نمونه نه شو موندلای او تر ۷۰۰ هـ وروسته موږ سره نثر ليکونکي په پښتو ادب تاريخ کې ځلېږي.

خو سره د دې يو ټينګ دليل شته چې تر ۷۰۰هـ د مخه هم د پښتو نثر موجود و او د پوخوالي او متانت درجې ته رسېدلی و او هغه دليل دا دی چې د ۷۰۰هـ په حدودو کې چې د نثر کومه نمونه موجوده ده هغه ډېره پخه او خوږه ده د يوې ژبې نثر چې دې درجې ته رارسېږي طبعاً يې بايد د مخه ابتدائي مراحل طی کړي وي څو د طفوليت له مراتبو څخه د رشد او پوخوالي درجې ته راغلی وي.

نو له دې خبرې څخه استدلال کوو چې بايد ډېر د مخه اقلاً دوه درې پېړۍ پر پښتو نثر تېرې شوی دی، څو د شپږمې پېړۍ متانت او پوخوالی يې مېندلی وی پس له دې لنډې کتنې څخه به په لاندې کرښو کې د پښتو ادبياتو لومړنی هغه نثر ليکونکي چې د نثر نمونه يې تر موږ را رسېدلی تاسې ته در معرفي کړم:

د پښتو ژبې له پخوانيو ليکوالانو او نثر ليکونکو څخه چې تر اوسه پورې معلوم شوي دي يو غټ او مقتدر ليکوال سليمان ماکو دی.

سليمان ماکو د بارک خان صابري ماکو زوی دی، چې د قندهار په ارغستان کې اوسېده، د ماکو قوم تر اوسه هم لږ تعداد هلته اوسېږي او په ابداليو (درانيو ) کې شاملېږي، سليمان ماکو له دې

قومه یو پوه لیکوال و او د پښتونخوا په غرو کې یې سیاحتونه کړي او د خپل عصر مشهور روحاني او ادبي شخصیتونه یې لیدلي دي، دی په خپله وایي چې: په ۶۱۲هـ تللی وم او د پښتونخوا په غرو او رغو ګرځېدم او دلویانو مراقد مې لیدلي او پلټل داسې ښکاري چې سلیمان تر ډېره مفید او ګټور سفر وروسته موفق شو، چې د پښتو د نوموړو بزرګانو په احوال کې یوه تذکرة الاولیاء ولیکي او د دوی ویناوې او اشعار په دې کتاب کې خوندي کړي، دا کتاب متاسفانه اوس ورک دی، خولومړی اوه (۷) مخه یې علامه پوهاند عبدالحی حبیبي صاحب ۱۳۱۹هـ کال د مخه په قندهار کې موندلي دي.

سلیمان ماکو د پښتو پخوانی مؤرخ او نثر لیکونکی دی او د ده د نفیس او ګټور کتاب دغه څو مخه د پښتو ژبې د تاریخ لپاره داسې مفیدې ثابتې شوې چې ادب او پښتو تاریخ یې تر ابده نه شي هېرولای او پښتانه پرې افتخار کوي.

د سلمان تذکره د پښتنو مشاهیرو او ادبي شخصیتونو یو مفصل تاریخ دی چې د هر سړي احوال بیانوي د هغه علمي او روحاني مقام ښيي او بیا یې اشعار او ویناوې را نقلوي د تذکرې یو څو پاڼې چې پیدا شوي دي داځینې معلومېږي چې سلیمان د پښتنو مشاهیرو احوال په داسې ډول لیکه چې د هغو د ژوندانه احوال ثبت او دا خبره هم څرګنده شي چې پلانی سړی څنګه ژوند کاوه چېرې اوسیده، پلار نیکه او کورنۍ یې کومه او چېرې وه؟ او هغه سړي څخه د خلکو په خوله، زړو کې کومه وینا او کوم شاعر پاتې دی؟ دی په خپل سیاحت کې د کاملانو حضور ته رسېدلی او کوم مشاهیر چې مړه و د هغو مراقد یې موندلي او لیدلي دي او د تاریخي وقایو په

ضبط کې يې ډېر دقت کړی دی.

د سليمان تذکره د پښتو پخوانيو شاعرانو په احوال او اثارو کې زموږ يو پخوانی تاريخي او پوخ ماخذ دی، هغه اووه مخونه چې له دې تذکرې څخه لاسته راغلي دي، د لرغونې دورې ډېرو شاعرانو پېژندنه پکې ذکر شوې ده.

د سليمان تذکره دا ښېګڼه لري چې هم د رجالو اخلاق او احوال بيانوي او هم يې د کلام نمونې لري او هم د دوی روحاني مقامات او د تصوف برخه څرګندوي له دې جهته موږ د سليمان تذکره د تذکر الاولياء او تذکرة الشعراء ترمنځ يوه جامعه نسخه ګڼو او سليمان يو مبصر او مقتدر مؤرخ او تذکره ليکونکی بولو دا چې سليمان پوخ نثر ليکونکی دی نو را ځو د نثر په تعريف غږېږو.[1]

د نثر پېژندنه: نثر هغه ليکلو ته وايي چې نظم نه وي، ډېری پوهانو د نثر ګڼ تعريفونه کړي دي.

قاضي عبدالحليم د نثر تعريف داسې کوي: نثر په لغت کې شيندلو، پاشلو او خورولو ته وايي او په اصطلاح کې هغه کلام دی چې د وزن د قيد نه خالي او ازاد وي.

سيد انورالحق د نثر تعريف داسې کوي: نثر په اصل کې د عربي څخه اخستل شوی دی او مانا يې ده لوستل، خورول او شيندل او اصطلاح کې چې د نظم ضد وي هغه نثر دی يا دو بلو، ليکلو او دلوستلو عامه ابغه نبغه، ساده او بې تکليفه ژبه چې د وزن او قافيې

---

1 - حبيبي، عبدالحی، د پښتو ادبياتو تاريخ، پېښور: دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۴هـ کال، ۵۹۷-۲۰۲مخونه.

د ترون څخه ازاده او سرې پکې هر ډول مطلب او مفهوم په ډېرې اسانۍ او ازادۍ سره بیانولی شي دې ته نثر وايي(1)

سلیمان ماکو دغه د نثر څو مخه په پښتو ادب تاریخ کې ډېر اهمیت او ارزښت لري ځکه چې د نثر لاسته راغلې نمونه همدا ده د دې نه مخکې که چېرې نثر موجود هم و خو موږ سره یې نمونه نه شته او موږ یوائې که حساب د نثر کولای شو نو د سلیمان ماکو د تذکرة الاولیاء دغه ۷ اووه مخه دي.

1 - سحر، سحر ګل، پښتو ادب پوهنه، ۱۳۸۹ هـ کال، ۱۹۹مخ.

# لومړنی ختیځپوه (مستشرق)
# چې پښتو ادب ته یې کار کړی دی

مېجر را ورټي: هنري جورج راورټي( Henry Geerg Raverty) ۱۸۲۵م کال د May پر یوديرشمه د انګلستان په فالموت Falmouth نومې سیمه کې زېږېدلی او د ۱۹۰۶م کال د اکتوبر پر شلمه د ګراميونډ په کوځه کې د یو اتیا کلنۍ پر پاخه عمر مړ شوی دی.

په پښتو ادبیاتو کې زیاتو مستشرقینو د پروفیسر جېمنډار مستر، پادري هیون، مودګنساین او داسې نورو کار کړی دی چې د یادولو وړ دي خو راورټي لومړنی شخص دی چې د پښتو ادبیاتو لپاره یې ډېر او په زړه پورې کار کړی دی.

دده مور او پلار ایرلنډیان وو، نېکه یې اوراورټي پلار یې پېټر راورټي نومېده او پوځي جراح و، لومړنۍ زده کړې په فالموت کې سرته ورسولې او په ۱۲ یا ۱۲ کلنۍ کې یې له سمندر سره مینه پیدا شوه خو له یو لنډ دریابي سفر وروسته یې نیت واوښت او له ځان سره یې دا تصمیم ونیوه چې عسکر کېږي به، ولې د سر چارلس لېمون په مرسته هندوستان ته ولاړ او ډېر ژر د بمبې په دریم نمبر فوځ کې د افسر په توګه وګمارل شو دې په ملتان، ګجرات او دهند په شمال لوېدېځه پوله(صوبه سرحد )کې په پوځي عملیاتو کې برخه واخستله او د پوځي مهارت او وړتیا له امله یې دوه وار مډالونه

وګټل، پر ۱۸۶۳م کال یې د تورن رتبې ته ترفیع وکړه په ۱۸۶۴م کال له پوځي خدمته تقاعد ته سوق شو او له هندوستان نه خپل هېواد ته ولاړ یو کال وروسته یې د قوماندان جورج پولي له یوا ځینۍ لور فینې و یګرس سره واده وکړ.مېرمن یې تر ده وروسته مړه شوه او اولاد یې پاتې نه شو سره د دې چې راورټي یو فوځي افسر وه، خو ادبي ذوق یې هم درلوده او ورسره یو ښه لیکوال او مورخ هم وه په انګلستان کې پښتو انجیل چاپ کړ، دغه راز یې د اسیب حکم کېسې په پښتو وژباړلې د هرات او خراسان تاریخچه یې پر ۱۹۰۵م کال بشپړه کړه ده تر مرګ پورې قلم وچلاوه، د مړینې پر وخت د پښتو د تاریخ په لیکلو بوخت و او د دغه درانه اثر لپاره یې خورا زیات مواد را ټول کړي وو، د غه راز ډګروال بېډلف په ۱۷مه پېړۍ کې د پښتو شعر په باب په یوه مقاله کې لیکلي دي: میجر راورټي ته باید په ریښتیا سره د پښتو ژبې او ادبیاتو د څېړنو د پلار لقب ورکړل شي څه د پاسه ۳۰ کاله یې خپل ځان لیکوالۍ ته بېکاره کړی و، راورټي که څه هم اکاډمیک تحصیل نه وکړی خو علمي استعداد یې خورا زیات و راورټي د پښتو ژبې او ادبیاتو یو ستر اروپایي عالم په توګه په ټوله نړۍ کې شهرت لري او په پښتو ادبیاتو کې یې هم ډېر زیات کار کړی دی چې څو نمونې یې د مثال په ډول وړاندې کوو:

۱: د پښتو او دهغو دژبې د لهجو او دغه راز له زند، پهلوي او عبراني سره د دغې ژبې د اړیکې په باب یادونې (۱۸۵۴م)

۲: د کاشغر او دغه راز د مرکزي اسیا د ځینو نورو ځایونو په باب یادښتونه (۱۸۵۷م)


WWW.samsoor.COM

۳: په دېره جاتو کې د سخي سرور د زيارت يادونه او دغه راز د هغې مېلې په باب بيان چې هر کال په دغه زيات کې کېږي (۱۸۵۵م)
۴: د د ېره جاتو، لويديځې پولې دغرنۍ سيمې (روه) او په هغې کې د مېشتو قبائلو بيان( ۱۸۵۸م)
۵: د لرو بر، سوات او کوهستان د سوات د سيند سرچينه او دغه راز په دغو سيمو کې د اوسېدونکو قبائلو بيان(۱۸۶۲م)
۶: پټهانان يا د دهلي پټان پاچا څوک و ؟ (۱۸۵۷م)
۷: د پښتو ژبې ګرامر په ۱۸۵۵م کال کې وليکه او يوه جامع سريزه لري چې د پښتو د اصل و منشاء په باب څېړنې کړي دي.
۸: د پښتو ډکشنري په ۱۸۶۰م کال کې وليکه او د پښتو ژبې ډېر پخوانى او تاريخي لغات پکې ځاى پر ځاى شوي دي.
۹: ګلشن روه د پښتو شعر او نثر يوه غوره مجموعه ده په ۱۸۶۰م کال کې د چاپه ووتله.
۱۰ د پښتو شعر منتخبات چې انګريزى نوم يې ( the Afghans selection Form The poetry of ) دى دا مجموعه پر ۱۸۶۲م کال کې چاپ شوې ده په سر کې يې د تصوف د نظريې او صوفيانه شاعرۍ په باب يوه مفصله سريزه ۳۲ مخه راغلې ده، ورپسې د رحمان بابا، ميرزا خان انصاري، عبدالحميد مومند، خوشحال خان، اشرف خان، عبدالقادر خان، احمد شاه بابا، کاظم خان شېدا او د خواجه محمد بنګش د اشعارو انګريزي ترجمې د هر يو د ژوند

## لیک سره یو ځای راغلي دي راوړتي دا سې نور اثار هم لري[1]

1 - هیله مجله، د هوتک محمد معصوم لیکنه، پنځم کال، شپږمه ګڼه، ۱۳۸۹ل سلواغه کب، پرله پسې ۳۰مه ګڼه ۱۷۵ مخ.

# د پښتو ژبې لومړنی سیلابېکو او څپېزو شعري ډولونو رامنځته کوونکی

میرزاخان انصاري: میرزاخان انصاري د پښتو یو ستر صوفي شاعر دی، چې د بایزید انصاري د مسلک یو کلک غړی و.
د هغه دېوان په افغانستان کې د کابل ټولنې له خوا او پېښور کې ښاغلي همېش خلیل او پښتو اکاډمۍ چاپ کړی دی میرزاخان انصاري د نورالدین زوی او د بایزید انصاري لمسی او لا روی وو، دا خبره ډېره واضحه ده چې په پښتو شاعرۍ کې د تصوف او وحدت الوجود باقاعده ابتداء روښانیانو کړې ده او بیا په روښانیانو شاعرانو کې میرزاخان د ټولو نه اهم شاعر دی، چې د پیر روښان پیروي کې یې د وحدت الوجود فلسفه او نظریه په خپله شاعرۍ کې خپره کړې ده او کلک منونکي یې وو.
میرزاخان انصاري دویم صاحب دېوان شاعر دی، له دې نه مخکې ارزاني خوېشکي دېوان ترتیب کړی وه چې هغه هم د پیر روښان د ادبي مکتب پیرو و، د میرزا شاعري پښتو ادب ته یوه غټه زېرمه ده چې زموږ د کلاسیکي شاعرۍ بنیاد دی، په شعر او شاعرۍ کې د بحر او وزن مسئله د لومړي ځل لپاره میرزاخان انصاري رامنځته کړه او له دې نه مخکې هیڅ یو شاعر په پښتو ادب تاریخ کې د شعر په څپو او سېلابونو باندې کار نه و کړی، د هغه د شاعرۍ غټ خصوصیات او ځانګړتیاوې په لاندې توګه دي:

۱: تصوف( Mysticism ) میرزا خان انصاري د پښتو شاعرۍ د تصوف باریکو لارو سره اشنا کړې ده دې نه وړاندې د ارزاني خوېشکي په شاعرۍ کې د تصوف اثرات وو، خو میرزا خان انصاري په منظمه توګه پښتو شاعرۍ کې د تصوف خواږه را ګډ کړي او د دغه شان دا د میرزا د شاعرۍ یوه ښکاره خصوصیت جوړ شو.

په تصوف کې هم میرزا د وحدت الوجود د نظریې قایل دی چې له د ېنه وړاندې په پښتو شاعرۍ کې روایت ډېر کمزوری دی.

۲: بحر او وزن( Rythum ) د میرزا خان د شاعرۍ یو خصوصیت دا دی چې په لومړي ځل یې پښتو شاعرۍ کې متنوع او رنګارنګ بحرونه او وزنونه متعارف کړل، له دې نه وړاندې په پښتو شاعرۍ کې ولسي شاعري او ملي اوزان موجود وو او په هم دغه وزنونو کې به شاعري کېدله د روښاني ډلې په شاعرانو کې میرزا لومړنی سړی وو چې پښتو شاعري یې د ملي اوزانو را وویسته او د یو وزن نه پرته یې په نورو متنوع او رنګا رنګ وزنونو کې شاعري وکړه، نو ځکه خوشحال خان د میرزا په باره کې وایي:

له چا نه په پښتو کې ما میزان لېدلی نه دی

میرزا په دا زبان کې وېل کړي دي تللی

۳: ژبې بیان( Diction ) مېرزا نه وړاندې د پښتو شاعرۍ ژبه او انداز هم ډېر پېچېده او مصنوعي وو، نامانوس تکي ژبه مشکله او د علمي اصطلاحاتو بوج د پښتو شاعرۍ په نازکه ملا پروت وو، میرزا خان انصاري په لومړي ځل پښتو ژبه په روانه پېرایه او اسان انداز کې شاعري وکړه او دغه شان یې پښتو شاعرۍ دا خصوصیت

په ډېرو وروستنيو شاعرانو هم اثر وکړو تر دې چې د رحمن بابا د شاعرۍ سادګي هم د ميرزا انصاري نه متاثره ښکاري.
د هغه د شاعرۍ دې خاصيت د هغه شاعرۍ ته ډېر لوی مقام او اهميت بخښلی دی او د دې اصلي وجه دا ده چې د تصوف او حقيقت غوندې د اسرارو او رمزونو نه ډکې خبرې او ګرانې مسئلې هم دومره په ساده او اسانه ژبه کې وي.
چې شاعرته ډېره اسانه ښکاره شي او د لوستونکو ذهنونو سره يې هم اهنګي ډېره په ښه طريقه پيدا شي د دغه قسمه شاعرۍ د مثال د پاره څو شعرونه د نمونې په ډول وړاندې کوو:

که يې ووينې په څېر
دا د دواړه کونه مير
په وحدت کې يګانه دی
بې شريکه بې نظير
کثرتې لښکرېې جوړ کړ
که بادشاه ګهي وزير
د ړغ رويه د هر کښت وو
هم د هر حيون اهير
چې نظر مې په محبوب شي
زړه مې ووت له تدبير
نور عالم په خپله لار ځي
زه يې بېل کړم له بهير
د استاد کلام رېښتيا دی
صحبت نه وي بې تاثير

چې د عشق په لومه کښېوت
بندي سخت دی له زنځير
محبت دده زندان شي
زړه يې لوی کاله سرير
څو ځوانان يې رسېده کړه
کل ځواني دې له دې پېر
خلق طمع د بادشاه کا
پاچا خواست کاله فقير
ميرزا امن هغو بيامونند
چې هوا يې کړه اسير

ميرزا انصاري نه وړاندې په پښتو کې يو شاعر ملا ارزاني خو ښکي دی چې د يوان يې موجود دی خو د هغه غزل په فني لحاظ ډېرې خامۍ او کمزوري لري دې نه وړاندې د پټې خزانې د شاعرانو دور دی چې پکې غزل ډېر کم ليکل شوی دی د غزل لومړنی شاعر اکبر زميندا ور دی چې صرف يو څو غزلې يې موجودې دي، ميرزا خان انصاري د پښتو لومړنی صاحب د يوان شاعر دی چې په شاعرۍ کې يې د اکبر زميندا وري او ارزني خوښکي نه ډېره زياته تنوع او رنګارنګي وي د هغه د يوان ته په پښتو شاعرۍ کې يو لوی اهميت حاصل دی ځکه چې د پښتو د کلاسيکې شاعرۍ يو ډېر بنه بنياد يې ايښی دی، د ميرزا ټوله شاعري په غزل مشتمله ده، ځکه د هغه د شاعرانه مقام د تصنيف په وخت صرف د غزل په حواله تبصره کېدلای شي.ميرزا د روښاني ډلې سړی وو او د پېر روښان لوی

متصوف او وحدت الوجودي وو. ځکه تصوف د میرزا د ژوند جز وو د هغه کلام کې بې له تصوف بله موضوع نه شته پښتو غزل کې مستقلاً که چا د تصوف خبرې کړې دي نو هغه میرزا خان انصاري دی. میرزا نه وروسته په صحیحه معنا د پښتو غزل دور شروع کېږي، د میرزا خان انصاري د غزلیاتو دیوان د پښتو د غزل صنف کې هغه لومړنی مثال دی چې د غزل ورشو ګانې پرې تاندې دي، پاکیزګي، سنجیدګي، وقار او جوش د میرزا خان انصاري د غزل مخصوص صفتونه دي.

د غزل په ژبه کې چې کوم د تصوف نازک مسائل میرزا حل کړي دي هغه د پښتو شاعرۍ لومړني دور کې نوي هم دي او ډېر اهمیت هم لري.د میرزا د غزل بنیادي موضوع تصوف او وحدت الوجود ده خو اصل خبره دده شاعرانه کمال دی ځکه چې د تصوف او وحدت الوجود خبرې خو نورو شاعرانو هم کړي دي چې د میرزا خان نه پکې وړاندې هم شته او وروستني هم خو په کومه ښایسته طریقه چې میرزا خان انصاري کړې دي ډېر کم شاعران به یې دغسې وکړی شي او بیا غټ مشکل هم دا دی چې یو خو د میرزا خان نه وړاندې د غزل روایت هم ډېر کمزوری وو او بل د تصوف او وحدت الوجود غوندې پېچیده مضمون د غزل په نازکه پېرایه کې وړاندې کول لا مشکل کار دی، خو میرزا خان ددغه مشکل نه هم ډېر په اسانه تېر شوی دی او د خپل غزل تغزل یې هم برقرار ساتلی دی(1)

یادونه: سربېره پر یادو نوښتګرو نور داسې ادبي سرلاري هم شته

---

1 - حنیف خلیل، د پښتو کلاسیکې شاعري، ۱۳۸۸ل کال، ۴۸-۲۵مخونه.

چې پښتو ژبې لپاره يې نوښتي کارونه کړي دي چې را تلونکې کې به پرې کار وکړم.

## اخستنځايونه


1. ارزومند ، محبوب شاه، د پښتو نظم کلاسيک ژانرونه، ګودر خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۹ل کال.
2. الفت، ګل پاچا ، ملي قهرمان خوشحال خان خټک، دانش خپرندويه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۵ل.
3. حبيبي، عبدالحی، د پښتو ادب لنډ تاريخ، دانش خپرندويه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۴ل کال.
4. حبيبي، عبدالحی، د پښتو ادبياتو تاريخ، دانش خپرندويه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۴ل کال.
5. خليل، پروفيسرحنيف، د پښتو کلاسيکې شاعري، ۱۳۸۸ل کال.
6. خليل، پروفيسور، حنيف، د پښتو زوړ نثر، يونورستي خپرندويه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۲ل کال.
7. خټک، خوشحال خان، دېوان، دانش خپرندويه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۴ل کال.
8. خټک، ډاکټر محمد عرفان، د پښتو نثر وړومبۍ نخې، يونيورستي بک ايجنسي، پېښور، ۱۳۹۰ل کال.
9. دوديال، محمد بشير، د تصوف حقيقت او د نقشبنديه طريقې يو بحث، مېوند خپرندويه ټونه، کابل، ۱۳۸۹ل کال.
10. زېور، زېورالدين، د پښتو ادبياتو تاريخ لرغونې دوره، مومند

خپرندویه ټولنه، ننګرهار، ۱۳۸۸ل کال.
11. سحر، سحرګل، پښتو ادب پوهنه، پښتو اکاډمي، پېښور، ۱۳۸۹هـ ش.
12. غني، پوهنیار سید غني، د منځنۍ دورې نثري متون، د خیرالبیان متن، ۱۳۸۵ل کال، دویم صنف چپتړ.
13. غني، پوهنیار سید غني، د خیرالبیان منظوم متون، د څلورم ټولګي چپتړ، ننګرهار پوهنتون ښوونې او روزنې پوهنځی.
14. غني، پوهنیار سید غني، تصوف په پښتو ادب کې، ۱۳۸۵ل کال، ننګرهار پوهنتون د څلورم ټولګي چپتړ.
15. لومړی ټولګی، د پښتو ادب لرغونې دوره، یون کلتوري یون، ۱۳۸۹ل کال.
16. محمد هوتک بن داود، پټه خزانه، قندهار، ۱۳۳۹ل کال.
17. مسلم دوست، عبدالرحیم خوږه ژبه، پېښور و ۱۳۸۸ل کال.
18. هاشمي، سید محی الدین، ادب پوهنه، ۱۳۸۱ل کال.
19. همکار، محمد ابراهیم، د قافیې فن، دانش، پېښور، دریم وار، ۱۳۸۲ل کال
20. هیله مجله، ډنمارک مېشتي افغان فرهنګیان او فرهنګپال.
21. هېواد مل، زلمی، د پښتو ادبیاتو تاریخ، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۷۹ل کال.
یون، محمد اسمعیل، پښتو شعر هندسي جوړښت، یون کلتوري یون.


WWW.SAMSOOR.COM